۴-داچې د(مورچل) مجلې لا له پخوا څخه په خپله غيږ کې د(انځوريز البوم) په نامه دمجاهدينو دبرياوو او ددښمن دماتې واقعي صحنې خوندي کړې دي. نو په کار ده دمورچل اداره او يا هم فرهنګي کميسيون له همدغو عکسونو سره ددښمن دماتې او دهغه دتلفاتو دصحنو په زرګونو نور عکسونه ملګري کړي او هم دهرې صحنې دوضاحت لپاره دهغې دارونډو معلوماتو مختصر نوټ ور سره وليکي او بيا يې پر بنه کاغذ په رنګين او مجلد ډول په څو ژبو کې چاپ کړي . نودا به دجهاد دبرياوو او ددښمن دماتې يو داسې تاریخي او مستند شاهد وي. چې هيڅوک به انکار ور څخه نشي کولی. داکار ددې تر څنګ چې خپل خاص معنوي او فرهنګي ارزښت لري په افغانستان. سيمه او نړۍ کې دخرڅلاو بنه مارکيټ هم لرلی شي.

په پای کې ددې مورچل پالونکو. ساتونکو او ټولو سنګر دارانو ته له الله تعالی څخه دمزيد توفيق غوښتونکی يم. الله تعالی دې لانور هم د دوئ په نيتونو کې اخلاص. په عزم کې رسوخ. په کار کې برکت او په قلم کې زور او تاثير ور واچوي. آمين. په همدې هيله دګران افغانستان يو (شپونکی).

دهیواد جید عالم اولیکوال محترم مفتی ابو یاسر

دیر غل پر خلاف دامورچل

دمورچل مجله چې کله ناکله ترلاسه کړم، دمجلې نوم مې همدې ته اړباسې چې له سره ترپه یې وګورم ، ځکه زه دیر غل په خلاف دمورچل سره مینه لرم.

پوهیږم چې مورچل دسنګر دخبرونو اوپښنو لپاره ځانګړې شوې ، ولې زه وایم چې مورچل کې باید یواځې دمورچل دزلمو په کارناموباندې انحصار ونشي ، بلکې مورچل باید دسنګر دپالنې ، دسنګردشازلمیودمسئولیتونو ، نظامي تاکتیکونو ، اونور دغه ډول معلوماتي مضامینو باندې هم مشتمله وي.

په بل تعبیر مورچل باید دهغوئ په معنوي اکمالاتو هم محیطه وي ،

په اوسنیو شرائطو کې دادوهمه وظیفه هم دمطبوعاتو په اوږو پرته ده ،اوخورا مهمه هم ده ، اواهمیت یې له دې نه ځرګنددی چې الهي نصرت ،بریالیتوبونه ، اوفتوحات له همدې سره تړاو لري.

بله خبره مې داوه: ځرنګه چې مورچل دسپیڅلي جهاد یوسپیڅلي انځورګره ده نوځکه باید هرڅه یې په حقایقو بناوي ، مطلب داچې په مطبوعاتي ډګر کې یې ځبره همداسې پاکه وي ،او په ټنده یې دعدم واقعیت کوم داغ نه وي.

نور مو په خپل دغه مورچل کې په الهي نصرت نازولي غواړم .

نامتو لیکوال ،شاعر ، نطاق اودالاماره ویب پانې مسؤل چلونکی
عبدالستار میوند:

مورچل، دسنګر ترجمانه مجله

دمورچل مجلې دکالکنې په مناسبت

تیر ۲۰۱۳ کال له هرې نګاه دمجاهدینو لپاره یوله بریاوو او لاسته راوړنو ډک کال وو ،په جهادي میدان کې ددې کال په جریان کې دمجاهدینو کاري بریدونو یرغلګر دښمن تپښتې ته مجبور کړ داشغالګرو ځواکونو یو شمیر متحدین تر خپلې تاکلې مودې (۲۰۱۴) وړاندې په دې مجبور شول چې خپل عسکر له افغانستانه وباسي. یو وخت چې ددښمن ډیره توجه دهیواد جنوب ته وه خپله ټوله پوځي ټیکنالوجي او دجنګ ساز او سامان یې همدې ولایتونو ته متوجه کړي وو او له دې سمت نه یې زیاته ویره درلوده .خو په ۲۰۱۳ کال کې ددوئ دتصور خلاف دهیوادپه شمال کې بدخشان ،فاریاب او سرپل هم ددښمن تر پښو لاندې سره تبې شول .دمجاهدینو دقوي بریدونو له امله یې یو شمیر ولسوالی او پراخې سیمې له لاسه ور کړې.

په جهادي او سیاسي لاسته راوړنو برسیره په مطبوعاتي برخه کې هم مجاهدینو ددښمن په وړاندې فرهنګي سنګر ګرم ساتلی وو ،ددښمن له زیاتو فشارونو او پابندیو سره سره بیا هم دفرهنګي کمیسیون نشراتي بهیر په بښه توګه په مخ روان وو. په انلاین انټرنیټي نشراتو برسیره چاپي نشراتي ارګانونو هم پرته له کومې وقفې خپل فعالیت په منظم ډول ترسره کاوه. دفرهنګي کمیسیون له چاپي رسنیو څخه یوه هم دمورچل میاشتنۍ جهادي ،سیاسي او علمي مجله وه، چې داشغالګرو په وړاندې په سنګر کې دولاړو مجاهدینو دپوځي بریاوو او حماسي کارنامو دیو تاریخي ارشیف په توګه په خپله سینه کې دساتلو ترڅنګ یې. همیشه د جهادي ،سیاسي، علمي او هر اړخیزو مطالبو په خپرولو دمینوالو تنده خړوبه کړې.

دقلم دا مورچل چې له تیرو اوو کالور راهیسي دیرغلګرو ځواکونو په وړاندې تود ساتل شوی، دنور وخت په نسبت له بښې محتوا ،بنایسته ډیزاین او صحافت سره پرته له کومې وقفې په مستدامه توګه خپرونې کوي او ترمینوالو رسیږي .

مورچل مجله نه دا چې یوازې دسنګر تازه پیښې عکاسي کوي. بلکې ددې ترڅنګ په زړه پورې علمي، دیني، ادبي او معلوماتي سلسلې لري چې دمورچل دهڅاندو او مخلصو لیکوالانو لخوا ترتیبیږي.

دجهاد فقهي مسایل، داسلام غزوات او سرپا جنګي جنایات، شهیدې قافلې او دمورچل وړمې، دا هغه سلسلې دي چې خوار زیات مراجعین لري او مینوال یې په ډیر شوق لولي. دمورچل مجلې یو بله سلسله چې په دې وروستیو کې پیل شوې دکتونکو توجه یې ډیره جلب کړې، (څو شپې له اولس سره) داسلامي امارت دویاند محترم ذبیح الله مجاهد دسوالونو او ځوابونو په زړه پورې او جالبه سلسله ده، له همدې لارې داولس دخلګو هغه پوښتنې چې ددوئ په ذهنونو کې وي حل او ځوابیږي. همداراز دهمدې سلسلې په مټ دځینو تازه موضوعاتو او قضایاوو په اړه داسلامي امارت رسمي موقف روښانه کیږي.

په مورچل مجله کې یوه بله نښه اضافه دانځوریز مورچل په نوم دځو رنګینو صفحو ایجاد دی چې، یر غلګرو ځواکونو ته داوښتو زیانونو دصحنو او دمجاهدینوپه بریدونو کې ددښمن دویجارو شویو پوځي وسایطو اخیستل شوي انځورونه پکې خپروي او ترمینوالو یې رسوي. واقعا چې هر انځور یې دحال په ژبه خبرې کوي. داشغال په وړاندې دمقاومت کوونکو مجاهدینو د لوړ همت او دیر غلګر دښمن دښپړې ماتې شاهدي ورکوي.

دیادونې وړ ده، دمورچل مجله دکتابي شکل ترڅنګ دانټرنیټ له لارې هم دمورچل دهمکارانو له لوري دالامارہ ویب پاڼې اداره ته رسیږي او دویب پاڼې دمجلو په برخه کې دفرهنګي کمیسیون دنورو مجلو (شهامت، څرک، الصمود او شریعت) ترڅنګ په انلاین توګه نشریږي، باید وویل شي په دې برخه کې یې دالامارہ ویب پاڼې دمراجعینو په زیاتوالي کې دپام وړ مرسته کړې.

څرنګه چې دیوې میاشتنۍ مجلې چلول او په هغې کې دتازه جریاناتو او پوځي پیښو اومسائلو ترڅنګ دبېلابېلو سلسلو او مختلفو موضوعاتو په پرلپسې توګه خپرول او تعقیب په عادي حالاتو او شرایطو کې خورا زیاته خواري او مندې غواړي. نو په انقلابي شرایطو او نامناسبو حالاتو کې دمورچل غوندې دیوې پور محتوا مجلې ترتیب، دمورچل مجلې دچلونکوو په ډیر اخلاص، هڅو او صادقانه خدمت دلالت کوي.

لاسونه لپه کوو، څښتن تعالی دي مورچلوالو ته مزید توفیق ورنصیب کړي ترڅو په اینده کې هم نورې په زړه پورې پنځونې وکړې او لا نښه لاسته راوړنې ولري

عبدالستار میوند

دالامارہ ویب پاڼې مسئول مدیر

دمورچلونو مورچل

مجاهد قلموال: عابد - الف لام

مورچل تل د باطل مرکزونه تر برید لاندې نیولي او دحق له دې سنګره یې دحقې داعیې غږپورته شوی، مورچل وتوانېدچې د کبرجن دښمن ټولې دسیسې شنډې او دزوال پرمور ګو یې ودروي، مورچل دسنګر دمجاهد غږ او دهغه دسرښندنو او کردارونو هندا ره ده، مورچل دمیډیا او مطبوعاتو په داسې زمول شوې فضا راڅرګند شوچې دوخت ښکېلاک دوخت په میډیا او مطبوعاتو هم یرغل کړی واود واقعیتونو له ویلو ګونګ وو، دمورچل دقلم له شپېلۍ پر باطل له کارنده ګوزارونو سره دخپلومینه والو علمي تنده هم ماتوي او دفقهي احکامو له چینې پرې پرېمانه څاڅکي اوروي، مورچل دمجاهدو قلموالو نه ماتېدونکی سنګر دی چې په پوره متانت، لوړ مورال او ډاډسره له خپلو اسلامي افکارو کلکه دفاع کوي، الله تعالی دې وکړي چې له هرډول نیمګړتیاوو پرته خپل مسیر په بریالیتوب سره منزل ته ورلنډ کړي، ځکه مورچل زمونږ دهیلوانځور دی او بالاخره مورچل زمونږ دډېرو مورچلونو مورچل دی .

مشهور لیکوال او د شریعت د مجلې مسؤل چلونکی ولید افغان:

د قلم او فکر دا مورچل

دی تل ښیرازه او سرشاره وي

دامریکا په مشری د غربي اشغالګروله لورې دهېواد داشغال په هغه ړومبو شپو ورځو کې چې دهېواد دازادۍ ،د دین او ملت نه د دفاع په موخه داسلام وفادارو او اصیلو بچیانو په تش لاس دنړۍ په ترټولو عصري او پرمختللو وسایلو او وسلو د سمبالو اشغالګرو پرضد جهادي مقاومت منظم او دهېواد په مختلفو برخو کې یې پر دښمن د چریکي بریدونو په نتیجه کې دښمن ته ځاني او مالي تاوانونه ور اړول پیل کړل نو د غمونو او دردونو نه په ډک هغه حالت کې چې په اشغالګرو عسکرو د ډز کولو تصور هم چانه شو کولای د مجاهدینو بریاوو نه د ټولو مسلمانانو او خصوصاً د خپلو هېوادوالو خبرول ډېره ضروري خبره وه خو متأسفانه چې د نړۍ رسنۍ کابو ټولې د غلامۍ په لومو کې رابنکېل وې د مجاهدینو حملې یې ډېخې نه ښکاره کولې او چې کومه به نه پټېده نو که مجبوراً به یې ښکاره کوله هم ډېره کوچنۍ به یې ښوولې او ویل به یې چې ځاني او مالي تلفات نه لري.

دې شالید ته په پام سره دیوې داسې نشرې خورا ډېره زیاته اړتیا وه چې د دښمن پرضد دروان جنګ او په جنګ کې د اصل حقایقو نه خلک خبر کړي چې له نیکه مرغه دا اړتیا هغه مهال پوره شوه کله چې مورچل پیل او ترننه یې دوام وموند : د قلم دې مورچل د خپل وجود ټول کابو تېر ۸ کلونه د ټوپک د مورچل سره اوږه په اوږه تېر کړل د ټوپک د مورچل نه چې ډز شوی د قلم دې مورچل یې خلکو ته اواز رسولی او هغه مورچل چې کله هم فتح کړی نو د پټولو ټولې هڅې یې دې مورچل ناکامې کړیدي ټوپک او د ټوپک اتلو حاملینو چې خپل سنګر او مورچل اباد ساتلی او وده یې ورکړېده نو قلم او قلموال هم دا سنګر او مورچل ژوندی ساتلی او وده یې ورکړېده .حقیقت دا دی چې دا او هغه دواړه مورچلو نه ترهغه حده برلاسي او فاتحان دي چې دښمن یې هم اعترافونو کولو ته اړکړیدي.

خو باید دا هم هېر نکړو چې مورچل یو اخې دوخت اړتیا نده پوره کړې بلکې مورچل یو مستند ارشیف دی او کله چې په راتلونکې کې د صلیبي سترو لښکرو په مقابل کې د اوسني اوږد او کامیاب جهاد تاریخ لیکل کېږي نو همدا مورچل به بیا تر ټولو معتبر ماخذ وي

او دا چې مورچل ته ویښ زیرک او باذوقه مدیریت ور په برخه شویدی نو د محترمو لوستوالو علمي ،ادبي او سیاسي تنده یې هم کاملاً ماته کړیده.

د جهادي بریاوو د خبرونو د زیاتوالي ترڅنګ چې د مورچل مجلې علمي ،سیاسي او ادبي خوا هم ډېره غني شوه نو ځکه د مجلې د زغم نه خبره بهرون او مجله په کتاب بدله شوه ،دا چې د خورا زیاتو مشکلاتو ترڅنګ په ډېرو کمو وسایلو د مورچل اداره او ټول همکاران هره میاشت د کتاب چاپولو باندې توانېږي دا یې لوی بریالیتوب دی ،د قلم او قلموال دا مورچل د تل آباد وي : د خدای نه ورته په ټولو چارو کې بریالیتوب او موفقیت غواړم.

نامتو لیکوال او شاعر قدرمن حاجي ظریف :

دقلم، سیاست، سنګر او فرهنګ مورچل

دافغانستان داسلامي امارت دفرهنګي کمیسیون له رسمي مجلو ځخه یوه هم مورچل مجله ده، چې په کتابي شکل سره صحافي شوې ،نومورې مجله چې مجاهد ورور شکور (شفق) یې دمدیریت چارې په غاړه لري رښتیا هم لکه چې یوه علمي ،سیاسي او جهادي خپرونې لري ،نو په ځغرده ویلای شو ، چې واقعا دادشرمیدلې اوماتې خوړلې دښمن په خلاف یو مورچل دی ،دقلم مورچل ،دسیاست مورچل ،دفرهنګ مورچل، دفقهي مسایلو مورچل، دسیرت پوهنې مورچل، دشهیدانو دخاطراتو مورچل، دغازیانو مورچل، دحماسو مورچل، ددعوت اوارشادمورچل، اوولسونوته درښتینو پیغامونو مورچل دی ،چې رښتیا هم مسؤل مدیر اونورو همکارانو یې په ښه توګه خپل مسئولیت اورسالت سرته رسولی او هغه ځه چې مورچ پورته ذکرکړل، پکې ځایه کړي دي.

زه دنومورې مجلې په لیکوالانو کې داسلامي امارت دویاند محترم ذبیح الله مجاهد (حفظه الله) دسوالونو او ځوابونو برخه ، دمفتي ابوماریه صاحب ،مفتي ابومحمد حقاني صیب ، ابو ظهیر، م م شکیب ، سید سعید صاحب اوعبدالرؤف حکمت غوندې دټولو ارزښتناکې لیکنې خوښوم او ددې تر څنګ دنومورې مجلې کتونکو او لوستونکو ته مشوره ورکوم ،چې که تاسو غواړئ چې دافغانستان له روانو جریاناتو او له پورتنیو ذکر شویو موضوعاتو نه په ښه توګه ځان خبر کړئ نو باید دمورچل مجلې هره ګڼه په غور سره مطالعه کړئ.

ستاسو ورور حاجي(ظریف)

مشهور لیکوال او شاعر قاري حبیب:

د ژورنالیزم دا مورچل

له تېرو شپږو کلونو راهیسې مورچل مجله لولم ،په دې مجله مې لومړی ځل په هغو کلونو کې ستر ګې خوږې شوې چې زموږ په اسلامي هیواد دلویدیځ یرغل په اوج او موج کې وو ، دازادې میډیا ستونې غاړبوجن شوی وو او ټولو رسنیو یوازې دامریکا په فرمایش تبلیغات کول .

په هماغو زمولوونکو شرایطو کې مورچل یوه له هغو مجلو وه ، چې د حاکم مطبوعاتي اختناق طلسم یې مات کړ ، په سختو حالاتو کې یې ، په کمو امکاناتو او لږ بشري ځواک په جهادي روحیه مالامالې خپرونې پیل کړې ،دمبارزې بیلابیل پراوونه یې ووهل ، اوپه سختو شرایطو کې یې زموږ دځوان نسل فکرونه تنویر او مطبوعاتي تنده خړوبه کړه .

مورچل میاشتنۍ چې دامریکا په ضد دافغان جهاد دمیاشتنې خبرې بولیټن په دود هره میاشت له چاپه راوځي ، په ښایسته او پرمحتوا دیني ، علمي ، ادبي او تحلیلي مطالبو سرببره یې ترټولو داهمیت وړ برخه خبرې ارشیف دی ، چې زموږ دجهاد ورځنۍ پیښې په خورا دقت دزمان او مکان له ټولو مواصفاتو سره یوځای خوندي کوي .

دا مجله به په راتلونکې کې دهغو تاریخ لیکونکو ، تحلیلګرانو او څېړونکو لپاره یوه مهمه منبع وي ، چې غواړي په افغانستان دلویدیځوالو دیرغل په اړه څېړنه او پلټنه وکړي .

په دې سرببره په مجله کې نشریدونکي رسمي اعلامیې ، پیغامونه ، مرکې او دبیلابیلو مسائلو په اړه داسلامي امارت دویاندویانو څرګندونې هغه څه دي ، چې دبیلابیلو مسائلو په اړه دمجاهدینو رسمي پالیسي څرګندوي ، چې دسبا ورځې لپاره دمستندو شواهدو په حیث وربانديې استدلال کیدلای شي .

د مورچل دخواریکښو چلوونکو او همکارانو هڅو او اخلاص ته په پام سره زه باور لرم ، چې د متعهد ژورنالیزم دامورچل به نور هم ځواکمن کیږي ، او دجهادي مطبوعاتو په ډګر کې به خپل رول ښه ترا زبادوي .

په همدې هیله

قاري حبیب

۱۴۳۵/۳/۸هـ ق

نومیالی لیکوال اوشاعرسید سعید

د واقعیتونو هینداره

مورچل د استعمار پلوه رسنیو برعکس دهیواد ورځنیو پیښو ته دواقعیت مطابق انعکاس ورکوي.

مورچل دمورچلوالو دشهکارونو(کمینونو، تعرضونو، چریکي بریدونو، فدایي عملیاتو)رښتنی انځورونه راندي کوي.

مورچل دیرغلګروځواکونو اودکابل منفور رژیم وحشتونه اوجنایتونه(چاپې، بمبارونه، ړندې ډزي، دښځو، ماشومانواوبوډاګانوشهیدول، دولسي خلګو نیول، شکنجه کول، تهدیدول، زنداني کول، په سپیو داړل، اونورخورابورنونکي مظالم)ترولسونوپوري رسوي.

مورچل داشغالګرواودهغوی دملګروپه زندانونو کي دمظلومو بندیانودنوکانوایستلو، په لاس اوپښوځورندولو، جوش اوبوکي غوټه کولو، بې خوبه کولو، په یخچال ډوله کوټوکي په میاشتو- میاشتوساتلو، رواني ځورونو، معنویاتوژوبلولواو.....کیسې اوخاطرې بیانوي.

مور چل دمور چلوالو سره دزړه خواله کوي ، دغازیانو دپاک نیت ، اوچت مورال ، کلک هوډ ، وطندوستۍ ، رښتنولۍ سرشاره جذبې اولوړي ارادې داستانونه وړاندي کوي.

مور چل دزبون دښمن دلویو - لویو قرارګاوو دتخلیه کولو ، فریادونو ، ژړاوو ، غوڅوشوو سرونو ، مات شوو هډونو ، پارچه - پارچه شوو وسایلو اووسایطو په زړه پوري تحریري او تصویري صحنې ننداري ته وړاندي کوي.

مورچل دفکري یرغل په طوفاني څپو کي لاهوشوي ډلي او افرادنجات بخښونکي سواحلوته سوقوي.

مورچل دفرهنګي تهاجم په توره تیاره کي لارورکوته دلاري بل مشال دی.

مورچل دننني ژړژورنالیزم په منځ کي دګوتو په شمارخپل مسلک ، اسلامي ارزښتونو او ملي منافعو ته ژمنورسنیو ترڅنګ هغه چاپې جهادي ،علمي ،او کلتوري خپرونه ده چي پیښي ، تحلیلونه او نظرونه دواقعیت مطابق منعکسوي.

مور چل په تېرکلني یون سره دنوروکلونو په شان ډیرهغه واقعیتونه وځلول اوراوسپړل چي استعماري اوکرایه کړشوي میډیا په ډیري سپین سترګۍ سره خاروې پرې شیندلې وې.

په پای کي دمور چل مجلې ادارې، همکارانو ،لوستونکو او ټولو هیوادوالو ته دمور چل دتېرکلني ګړندي اوبریالي یون مبارکي ډالۍ کوو ،سترڅښتن جل جلاله دي دادجهادي بهیرانځورګرمور چل لاډیرمضبوط، غني ،روان اوله بدوسترګو په امان لري. امین !

دمور چل دلاښکلا اوپیاوړتیا په هیله

د فکر مورچل

جمال الدین ادیب

د ایمان خبره ده. ګڼي په دومره ځپونکي مرحله کې د اسې متوازن فکر او سالمه مبارزه شوني نه بریښي. بهر او دننه د دښمن جال خپور دی. هر ځای کمین دی. لار ډېره سخته او کړلېچې ده. د دښمن او خیانتګرو دفاع له هر شعور او لاشعوره کیږي. ډېر هوښیار خلک وغولېدل او وخویښدل. هغه محفوظ شول چې د الله جل جلاله نظر ورباندې و.

د اسې حالت وي، چې نه له هر چا لیکنه غوښتی شې او نه په هر چا باور کولی شې. ځینې وخت لیکوال له امنیتي لحاظه اعتبار وي، خو د فکر له پلوه اعتبار نه وي. ځینې وخت یو لیکوال له دواړو طرفو اعتبار وي، خو د حواشیو له طرفه معتبر نه وي. کله د اسې هم وي، چې لیکوال دوضعیت له درکه عاجز وي، هغه چورلیز چې اداره یې روښانول غواړي، د لیکوال فکر نه ور رسیږي یا ورته په زړه پورې نه وي.

چاپ جلا ستونزه ده او توزیع یې جلا. هغه خلک چې دفاترو کې ناست دي، حکومتي پالنه یې د سر سیوری دی، شاید دا ستونزه درک نه کړي، خو هغه خلک دې دا تصور کړي چې د نړۍ هر دولت دې مخالف شي. د هر مخالف دولت استخبارات دې وځاري. هره شېبه دې څټ د جابرې خپړې په تمه وتخنېږي، نو ځنګه ممکنه ده، چې نړۍ هم اعتراف وکړي، چې د جهاد فرهنګي زغل له دوی تېز دی!

د اسې حال کې چې متوازن فکر کیږي، سالم مېتود کارول کیږي، منظم فعالیت کیږي او دښمن اعتراف ته مجبوریږي، د یوه ځانګړي شکر ځای دی، ځکه چې ځانګړې مرسته شاملِ حال ده. ایمان د دې هرې سوبې لامل دی. د مادې نسیان د دې ستر معنوي قوت ښنونکی دی.

په سیمه کې د اسلامي فکر د اېل کولو په موخه نړۍ پورته شوه او کېناسته، خو هیڅ یې تر لاسه نه کړل ځومره چې مادي یرغل تېز او خونړی شو، هغومره معنوي مقاومت پر مخ ولاړ. ځومره چې د اسلامي فکر پر وړاندې خنډونه راوټوکول شول، هغومره د خنډونو د لرې کولو حوصله پیدا شوه. ځومره چې د اصیل اسلامي رنګ د تټولو کار وشو، هغومره وځلېد، داسې چې نړۍ یې حیرانه کړه.

نړۍ شاید دا فکر کاوه چې دا اېلېدونکي ممبرونه دي. ماتې منونکي ممبرونه دي. مایلېدنوکي ممبرونه دي. بدلېدنکي ممبرونه دي. اوس یې ولیدل چې دا ممبرونه سر شاره دي. سوبمن دي. تېکاومن دي. اصیل دي پردی رنګ نه مني...

یو له هغو ممبرونو چې د مرمیو له شنګ وکړنګ سره یې خپله داعیه بدرګه کړه، تر دښمنه یې ورسوله، بلکې د تودو سنګرونو د هر سرښندي مجاهد پاڅون او مقاومت ته یې معنا ورکړه... "مورچل" دی. مورچل په ډېره سخته مرحله کې د مادي یرغل په شا وتمباوه، بلکې ببرته یې هغه یرغل دفاعي حالت ته واړاوه، چې د یوه دبدبه ښندي تکبر په ژبه غږېده. هغه خلک چې د یوې ګلګلمیرې فضا ژورنالزم ته یې وده ورکړه..بې معنا خلک یې وپرسول. مفاهیم یې واړول. ارزښتونه یې پایمال کړل. "مورچل" بې تفاوته پاتې نه شو او په داسې مېړانه یې کاذبو خولو ته خاورې وروا چولې، چې تاریخ به یې هېر نه کړي!

"مورچل" سره له دې چې لومړی سوچه نظامي وه، خو په کرار او خواږه تدریج ادبي او فرهنګي هم شوه..فکر یې هم وغوړاوه او سیاست یې هم پرې نه بښود. او سنی مورچل ډېر په زړه پورې دی. د هر چا مورچل دی. فکر، فقاهت، ادب، فرهنګ، ژورنالزم، سیاست، جګړه، مرکه او شننه، څېړنه او معرفت هر څه لري.

لیکنې، مبتودیکه او بحثي نیمګړتیا به وي، خو دا شرایط او دا امکانات او دا ډول مورچل د ښه صلاحیت او استعداد پیغام دی.

د ۲۰۱۳ کال خوږې او ترخې!

ترتیب: خبیر احمد

افغانستان

که څه هم ۲۰۱۳ امریکایانو اوملګرو یې دځان دپاره کال بللی وو او دهمدې کال په سر کې یې داستراتیژي ټاکلي وي چې طالبان به د ۲۰۱۴ کال له راتګ وراندې دومره کمزوري کوي چې دبل کال لپاره دپوځي تحرک اوتکتیک دپلي کولو هیڅ توان ونلري. خو بیاهم په افغانستان کې طالبانو دامریکایانو. ناټو اوداخلي قواووپه مقابل کې دخالدبن ولیدعملیات اعلان او په ټول هیواد کې یې دبریدونو لړی خپره اوپراخه وساتله چې دنړیوالو ازادو تحقیقاتي موسسو دتخمینونو په اساس د ۲۰۱۳ کال په پرمبیو میاشتو کې طالبانو پنځه زره بریدونه ترسره کړل او زر ګونوخارجي اوداخلي عسکرو ته یې دسر تلفات اوزیانونه ورواړول اوهم یې زر ګونه نقلیه وسایط ټانګونه او سوونه چورلکې اوالوتکې له منځه یووړي. دغه راز د ۲۰۱۳ کال بله پیښه په افغانستان کې دیوې اجیري لویې جرګې تدویر وو چې امریکایانو ته یې دامنیتي تړون اوقضایي مصونیت په تصویب سره اجازه ورکړه چې له ۲۰۱۳ کال ورسته هم په افغانستان کې پاتې کیدای شي اوخپلې اشغالګرې قواوې په لسو پوځي اډو کې ځای پر ځای کولای شي.

دغه ډول د ۱۳ کال مهمه سیاسي پیښه داوه چې په قطر کې داسلامي امارت له سیاسي دفتر سره امریکا، ملګرملتونو اوسیمه ییزو هیوادونو موافقه وښود چې په ترڅ کې په نومورې دفتر داسلامي امارت سپین بیرغ دیولړ مراسمو په لړ کې ورپرانیستل شو اور سمادفتر پرانیستل شو. خو بیاورسته مخالف لوری په خپلو ژمنو ونه دریداوپه غبرګون کې طالبانو دفتر احتجاجا وتاړه.

امریکا:

۲۰۱۳ کال په داسې حال کې پای ته ورسیدچې نړۍ په دغه کال کې دګنوخوږو اوترخو پیښواو حوادثوشاهده وه، چې یوشمیر هیوادونوته یې دبریااوپرمختیازبرې درلودل اوځینونوروته یې دشکست، ناکامۍ اورسوایۍ څرګندتکې لرل: خودکال ترټولودوه مهمې پیښې اورسوایې چې امریکاورسره مخ شوه. هغه داسنودن له لورې دپټورازونولوڅول اودامریکادفدرالي دولت تعطیلي وه.

نړۍ ته هغه مهال دامریکاځپره نوره خجله اونړیوال حیثیت ته یې درون زیان واوښت چې ددغه هیواددملي امنیت مامور (اسنودن) د۲۰۱۳ کال په اوږدوکې د ۲۰۰ سوو مستندومدارکوپه وړاندې کولوسره په ډاګه کړه چې امریکانه داچې دخپلواتباعوپه لوبه پیمانه تلفوني اوبرښنایی جاسوسي کړي، بلکې دنړۍ دمهموهیوادونو دمشرانواوپه خاص ډول دارویایی ټولنې دګنوهیوادونودلوړپوړوچارواکوتلفوني خبرې اوبرښنایی لیکونه یې کشف کړي. اوغوربې ورته نیولی اوهم یې له ځان سره ساتلي، چې له شک پرته دغې پیښې اوناولې کړنې دامریکاپه ټنډه دجاسوسی تورداغونووتومبل اود(قرن) دیوې لوبې رسوایی نوم یې ځانته غوره کړ.

دغه راز دفدرالي دولت ستوط اوتعطیلي دامریکایانولپاره هغه بدخبرووچې د۲۰۱۳ کال داکتوبرپه ۱۰مې نیټه باراک اوباماپه یوه تلویزوني وینا کې وویل: لدې وجې چې کانګریس دامریکادفدرالي دولت بودیجه تصویب نکړه، نوددولتي بنسټونوچلول اودټولنیزو خدمتونو دادارو فعالیت نورشونې ندی یعني دامریکافدرالي اومرکزي دولت ترهغوچې بودیجه تصویبیږي تعطیل دی.

ایران

ایران په ۲۰۱۳ کال دوه مهم پرمختګونه درلودل چې یوې دجون په ۱۴ نیټه دولسمشرۍ ټاکنې وې چې د۱۸ میلیونو رایوپه ترلاسه کولود۴ کلونولپاره حسن روحاني دایران دولسمشرپه توګه وټاکل شو، دغه راز دنومورې هیوادبله مهمه پیښه داوه چې دنومبر په ۲۲ نیټه ایران په دې بریالی شوچې دهستوي پروګرام لس کلنه لانجه له 5+1 لورې سره حل وګرځوي، په دې معناچې غرب دایران دیورانیمو دغني کولوحق دیوشمیر محدودوپه وضع کولو تسلیم کړ اوهم یې په ایران ګنو تحریمونوته دپای ټکی کیښود

مصر:

۲۰۱۳ کال دمصرلپاره ترخې اوځوروونکې پیښې اوصحني لرلې، دجون په ۳ نیټه دمصرپوځي واکمنو منتخب ولسمشر محمد مرسي له واکه دې پلمه لیرې اوزندان ته ولیږه چې هغه په ځومیاشتوونښو کولای دمصراقتصادي حالت عادي اود خلکواعتراضونوته مثبت ځواب ووایي، مصري پوځي واکمنوپه همدغه جنایت

هم بسیاونکړه، په زرهاوو تنه هغه مصري وګړي چې دمرسي دبیرته راتګ غوښتنه یې درلوده په ډیرې بې رحمي ووژل، په هغه سرښیره یې داخوان المسلمین ګوندچې دقاطع مصري ولس یومحبوب ګوندوو ناقانونه اعلان کړ اوپه زرهاوو نورې اوپلویان یې دزندان تورو تمبوته وغورځول.

سوریه

دسوریې په پلازمینه دمشق اوګټو نورو بښارونو کې د۲۰۱۳ په اوږدو کې خونړۍ اوله تباهیوډکې جګړې دسني پاڅون کونکو اودبشارالاسد له رژیم سره روانې وې، چې دملګرملتونودیوې تحقیقاتي موسسې دارقامولە مخې تر اوسه له یولک تنوډیر سوریایان وژل شوي اودوه میلونه ګاونډیو هیوادونوته مهاجر شوي

دسوریې بله مهمه پیښه داوه چې دبشارالاسد

رژیم په عام ولس کیمیاوي وسلې وکارولې چې له امله یې ددمشق بنارپه څنډو کې یونیم زر تنه ووژل شول، چې دغه عمل په نړیوال ډګر کې داسدپه خلاف لوی غبرګون راوپارا وه، تردې چې امریکاهڅه وکړه ترڅو په سوریه مخامخ بریدترسره کړي، خودروسیې په منځګړیتوب دامریکادبریدمخه ونیول شوه چې بشارالاسدبه خپلې ټولې کیمیاوي اوزهرجني وسلې دملګرملتونو پلټونکو ته سپاري ترڅویې هغوی له منځه یوسي، چې هماغسې وشول، اسدټولې کیمیاوي وسلې دملګرملتونو په لاس له منځه یوړي اودامریکااوغرب له مستقیم یرغل څخه یې ځان وژغوره.

قطر:

دجون په ۲۵ نیټه دقطر ۶۱ کلن امیر (شیخ محمدال ثانی) په خپلې یوې تلویزوني وینا کې اعلان وکړ چې نور له خپلې ۱۸ کلنې زامداری نه لاس اخلي اوواک خپل ۳۳ کلن ځوی شاهزاده تمیم ته سپاري، که څه هم شیخ محمددغه اقدام یونوعه دیمکراسي وبلله، خوډیرې کتونکي په دې باور لري چې دقطر ددغې پیښې ترشا دامریکافشارووا ویوه نرمه کودتادوله وه چې تمیم دخپل پلارپه وړاندې دامریکایانوپه مرسته ترسره کړه

منډیلا:

د۲۰۱۳ کال دډیسمبرپه ۶ نیټه دافریقالوی مبارز (نیلسن منډیلا) چې دنژادي توپیراوتبعیض دله منځه وړلو دیونامتومبارز په توګه یې نیږدې ټول عمر مصرف کړی وو د۹۵ کلوپه عمر ومړ، نومورې دتورپوستوپه وړاندې دجنوبي افریقاداپارتیدرژیم دتبعیضي چلندپه مقابل کې اوږده اوله کړاوڅخه ډکه مبارزه سرته ورسوله چې له امله یې منډیلا ۲۷ کاله دزندان تورتمبوته واچول شول، خوله خپلې داعیې په شانشو، په ۱۹۹۰

کې ډيوه ملي اتل په توګه ازاد اوپه ۱۹۹۴ کې دخونړۍ ازادوتاکنو په نتيجه کې دجنوبي افريقا د رومبي تورپوستي ولسمشر په توګه د ۴ کلونولپاره وټاکل شو.

شمالي کوريا:

داتومي وسلودخورولو په سر دشمالي کوريااوامريکاترمنځ شخړه د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې نه داچې دحل په لور وخوځيده، هغه وخت نوره کړ کيچنه وګرځيده چې شمالي کوريادامريکاله لوري ډيولږ اقتصادي بنديزونود لګولوپه غبرګون کې داتومي توغنديو نوې ازمويښه ترسره کړه، دهمدې کال په فبروري کې دشمالي کوريار سنيواعلان وکړ چې ددغه هيوادپوځ دتيرواتمي بمونوپه مقايسه يوسپک اوږو کی خودچاودنې په لحاظ قوي صلاحيت لرونکی بم ازمويلي. دشمالي کوريادغه اقدام له غرب اوامريکاسره لانجه نوره تاوتريخوالي ته يووړه، روسانواوچين دشمالي کوريا په غيري مستقيم ډول ملاتړ وکړ اوصرف ملګري ملتونه يې ددې مستحق وګڼل چې په کوريافشارراوړي اواتومي شخړې ته يې دحل لاري چاري ولټوي. دشمالي کوريابله مهمه پيښه داوه چې د سامبر په ۱۲ نيټه دشمالي کوريا ددفاعي کميسون مرستيال اودشمالي کوريا درهبر دعمه ځوی جنګ سونګ تائک، ظاهرا دمالي خيانت په توراعدام کړل شو. نوموړی دشمالي کوريايوه مهمه اقتصادي څيره وه اوله چين سره يې تودي اړيکي لرلې. ويل کيږي چې دمالي برلاسي اوپه بهرنۍ نړۍ کې زيات شهرت ددې باعث شو چې دشمالي کوريارهبر دهغه په ضدداعدام پريکړه وکړي

عراق

په عراق کې دتيرې څه باندې يوې لسيزې په څير په ۲۰۱۳ کال کې هم خونړۍ پيښې، چاودنې اودمرګونوسلسلې په توندی روانې وې. امريکايانو ددغو پيښومسوليت په القاعده اودنورالمالکي په رژيم اړوې اوزياتوي چې که عراق له امريکاسره امنيتي تړون لاسليک کړی وای نودغه حالت به اوس هلته په دې شکل نه وو. ديوشمير تحقيقاتي څيړنوپه بنيادهره مياشت په عراق کې زر تنه وژل شوي اولدې زيات ژوبل شوي. دچارو کتونکي ددغوپيښو علت په عراق کې دامريکايانو له لوري پټه لاسوهنه اودسني اوشيعه ترمنځ خپل منځي منافرت ته لمن وهل بولي

اروپا:

کرواسی، ۲۸ هيوادوو چې د ۲۰۱۳ کال په

اوږدو کې اروپايي اتحاديې په خپل غړيتوب ومانه، له بلې خوادارويايي اتحادیی ددوغړو هيوادونو(يونان اوپرتګال) خلکو دپراخومظاهروپه اچولوسره غوښتنه کوله چې يادې اروپايي ټولنه اومرکزي بانک له

دغوهیوادونوسره پراخه مالي مرسته وکړي اوبادي نومورې هیوادونه له ټولنې دوتلوپریکړه وکړي . چې اروپا دخپلې ټولنې دوحدت دنجات لپاره له یادو هیوادونوسره دفوق العاده مرستې ژمنه وکړه اوله املې یې یونان اوپرتګال په اروپایي ټولنه کې پاتې شول .

له بلې خوا داوکراین خلکو دپراخولاریونو په ترسره کولوسره له خپل دولت نه غوښتل چې دروسیې پرځای له اروپایي ټولنې سره سیاسي اواقتصادي تړونونه لاسلیک کړي . خودولت یې مخالفت کاوه . چې په پای کې داوکراین دولت دخلکو غوښتنې ته غاړه کیښوده

د ۲۰۱۳ کال په رومبیو کې دواتیکان شپارسم پاپ . بندیکت . په یوه حیرانونکي اقدام کې دخپل جسمي زړښت په پلمه له خپل مقام څخه استعفاوکړه اوپرځای یې پاپ فرانسیس دغه ځای ته وګمارل شو .

ویتنام :

ویتنامی جنرال «وو نوین جیاپ» چې دنومورې هیوادمغزبلل کیده اودیوه ملي اتل حیثیت یې لاره د ۱۰۲ کلونوپه عمرومړ . نومورې له ۱۹۴۵څخه تر ۱۹۸۰ کلونوپورې . دشمالي ویتنام ددفاع هغه وزیر وو چې له امریکایي پرغل سره یې په میرانه مقابله وکړه اوبالاخره یې امریکایانو ته تاریخي شکست اوماته ورکړه . جنرال «وو نوین جیاپ» چې دویتنام دپوځي نابغه لقب یې هم ګټلی وو . په کال ۱۹۵۴ کې فرانسوي استعمار ته په هنداوچین کې هم تاریخي درس ورکړی وو .

دویتنام په اړه د ۲۰۱۳ کال بله ډیام وړ پیښه داوه چې ددغه هیواد په یوه لوی ځنګله کې یوپلار اوځوی چې ۴۰ کاله یې هلته زندګي کړي وه ومونډل شول . هغوی په ویتنام دامریکایي بمبارۍ له ویرې ۴۰ کاله مخکې دغه بې سره اوپایانه ځنګله ته پناه وروړي وه اوهلته یې په یوه ونه کې چې دخونې په څیر جوړه وه زندګي کوله اوبونوعه ځنګلي میوه یې خوراک وه . دوی په دې نه وو خبر چې امریکاپه ویتنام کې شکست خوړلی . کله چې یوې ډلې خلکودلر ګیو پریکولولپاره . دتای ترا . منطقې د کوانګ انګای . ځنګله داخل شول دوه تنه یې په داسې حال کې ومونډل چې له پاڼوپې ځانونو ته جامې جوړې کړي وې . راپورونه وایي پلار اوځوی په داسې حال کې کشف شول چې هغوی ډیر کمزوري وو . دپلار عمر یې ۸۲ کاله وواودځوی یې ۴۱ کاله . پلار یې په محلي ژبه خبرې کولای شوی . خوځوی یې تنهاپه څوکلوباندې دخبرو عبور درلود . اوس دواړه په یوه روغتون کې بستر ې دي .

دبشر دحقوقونړيواله ورځ

اوپه نړۍ کې دبشريت بدحالت

شهيد زوی

دقانون په نظر کې به ټول انسانان برابر او په ژوند تېرولو کې به هر څوک ازاد وي ؛په هر طرز او طريقه چې څوک ژوند تېرول غواړي څوک به يې مخه نه نيسي ؛دخپلې رای په بنکاره کولو کې به هر څوک ازاد وي ،درنګ ،نسل ،ژبې ،سيمې يا ګروهي له امله به له چا سره ناوړه سلوک نه کېږي ؛ قانون ته به ټول وګړي يو ډول مسئول وي ؛هيڅوک به بې له جرمه په ظالمانه ډول نه نيول کېږي او ترڅو چې په يقيني دليلونو دچا جرم نه وي ثابت مجرم به نه ګڼل کېږي او هيچا ته به جسماني اذيت نه ورکول کېږي .

دا پورتني او دبشر دحقوقو دساتنې لپاره اړين ځنې نور اصول په هغې قانوني مسودې کې راغلي دي چې دنن نه ۷۵ کلونه وړاندې د ۱۹۳۸ کال د دسمبر په ۱۰ مې نېټې دملګرو ملتونو په جنرال اسمبلۍ کې دغړو هېوادونو په اتفاق په نړۍ کې دبشر دحقوقو دساتنې په موخه تياره او منظوره شوې وه ؛ دقانون جوړونې ترڅه پدې مسودې کې په ډېرې باريکۍ او جور نظر دبشر دحقوقو احاطه شوې وه او دوخت په تېرېدلو پکې ډېر تغير او تبديل هم رامنځته شوی ترڅو دوخت غوښتنې پرځای ؛ دبشر حقوق دپامالېدو نه بچ او په نړۍ کې دامن او مساوات دقيام په نتيجه کې انساني ټولنه دژوند په ټولو اړخونو کې پرمختګ وکړي.پدې مسودې کې دا هم راغلي وو چې دنړۍ په هر هېواد ، دملګرو ملتونو دجنرال اسمبلۍ غړيتوب لري او که نه لازمه ده چې پدې مسودې کې په ذکر شوو اصولو عمل وکړي.

په نړۍ کې دبشر دحقوقو دساتنې لپاره ددې مسودې تياری او منظوري ډېر ضروري اقدام و چې شوی و او خصوصاً چې ورنه په وړاندې نېټدې ماضي کې دوهم نړيوال جنګ او پکې خو راډېر سترمالي او ځاني تاوانونه رامنځته شوي وو.

دبشر دحقوقو دساتنې لپاره دقانون جوړونې دا اقدام او بیا یې منظور بدل دوخت ستره غوښتنه وه دوخت داغوښتنه پوره شوه خو متأسفانه چې دملګرو په اداري کې دغړو ټولو هېوادونو په اتفاق دبشر دحقوقو ساتنې په موخه ددې منظور شوو اصولو نه ګټه یواځې نامسلمان هېوادونو او ولسونو پورته کړه او دمسلمانانو په اړه یې ترننه دعملي نه تطبیق له امله داسې حیثیت غوره کړی لکه چې دا یواځې دنامسلمانو لپاره جوړ او منظور شوی او اسلامي نړۍ بیخي ددې مستحقه نه وه چې ترې ګټه پورته کړي.

دبشر دحقوقو پوهان ټول پدې اعتراف کوي چې په نړۍ والە سطحه دبشر دحقوقو دمنل کېدو او نړیوالتوب هدف هیڅکله هم دا نه و او نه دی چې دهېواد ،ملت ،سیاسي ګوند یا مذهبي ډلې نظریات به په نور وتحمیلېږي او یا به ځوک اجازه لري چې دبشر دحقوقو نه به هغه تعبیر کوي کوم یې چې زړه مني بلکې دنړیوالتوب هدف یې ټولو قومونو او ثقافتونو ته درنښت دی خو برعکس چې امریکا او نور لویدیځ نه یواځې دا چې نورو ثقافتونو ته په درنښت ندی قائل بلکې ترڅنګ یې دبشر دحقوقو په نوم پرټولې نړۍ خپل غربي کلتور هم په دومره اهتمام مسلط کول غواړي چې په وړاندې یې یو خنډ هم نشي زغملای او ددې لاري داصل خنډ یانې مسلمانانو پرضد یې جنګ اعلان کړی دبشر دحقوقو اصولنامه دنورو ثقافتونو او په ځانګړې توګه د ۲ ملیاردو نه دزیاتو انسانانو ددین اسلام دثقافت نه خالي والی خورا ډېر ستره بې انصافي او دمسلمانانو سره دمور او مېرې سلوک دی چې امریکا او دامریکا نور لویدیځوال متحدین ترې ناوړه ګټه پورته کوي.

امریکا او اشغالګر متحدین یې چې داسلامي نړۍ هر هېواد قبضه کول او پرې یرغل کول غواړي همدا دبشر دحقوقو نه مراعت کولو خبره رامخې ته کړي دبشر دحقوقو نه ددفاع په پلمه په هېواد یرغل وکړي نو بیا دبشر دحقوقو ترڅنګ دسونزرو په شمېر پخپله بشر هم ترپښو لاندې کېږي خو نه ترې دملګرو ملتونو او نه هم کومه بله نړیواله اداره پوښتنه کولای شي.

نو دملګرو ملتونو داداري مسئولیت دی چې دبشر دحقوقو په اصولو ،قوانینو او میکانیزم کې دمسلمانانو ثقافت او لار ښوونې په پام کې ونیسي او دتش په نامه تروریزم په خلاف داسلام او مسلمانانو پرضد دپیل شوي جنګ دحمایت نه لاس واخلي ؛ دا جنګ ناشروع جنګ وګڼي ترڅو دنړۍ په ګوډ ګوډ کې دانسانانو دحقوقو احیا یقیني شي.

دبشر د حقوقو دساتنې لپاره وړاندې شوي او منظور شوي اصول هغه مهال د نړیوال حمایت نه برخمن کېدای شي چې پکې ټولو تهذیبونو او ثقافتونو ته یوائې د قبول ترحده نه بلکې په عمل کې دګډون حق ورکړل شي.

دا خبره هم ډېره مهمه ده چې دملګرو ملتونو له لوري دبشر د حقوقو په اړه په خپرو شویو اعلامیو کې یوائې هغه څه راځي چې تر اوسې دانساني ژوند دمادي اړخ سره وي ،دانساني ژوند دمعنوي او اخلاقي اړخ هیڅ یادونه پکې نه وي ،نن چې انساني ټولنې کې دانسانانو له لوري نور ستر ظلمونه روان دي یوائیني لامل یې په انساني ټولنې کې دمعنویت او اخلاقي اقدارو فقدان دی.

دنړۍ زبر ځواکونه چې په کمزورو ولسونو او خصوصاً پر مسلمانانو ډېر ستر ظلمونه کوي او پر مظلومو انسانانو دظلمونو دلړۍ ودرولو په موخه ولسونه دخپلو دولتونو پرضد هیڅ اوازنه پورته کوي سبب یې همدا دی چې ولسونه په اخلاقي لحاظ ځانونه دې ته مسئول نه ګڼي ؛ مثلاً دعاصب اسرائیلي دولت له لوري ددې دولت دوجود نه ترننه پر فلسطیني مسلمانانو هر ډول ظلمونه روان دي ،هیڅ دانسانانو په نظر ورته نه کتل کېږي نو ځکه یې ټول حقوق ترپښو لاندې کېږي ، په ډول ډول پلمو زور ،ځوان ،ستر ،کوچني ،مېرمن او سړي دامتیاز پرته اسرائیلي وحشي فوځیان هره ورځ په لسګونو فلسطینیان زندانیان کوي چې هوري دزندانیانو دنړیوالو منل شویو ټولو حقوقو نه دمحرومیت ترڅنګ دهر ډول تشدد ښکار کېږي داسرائیلي ولس نه خوهسې هم دا تمه نه شي کېدای چې دخپل دولت دظلمونو او وحشتونو پرضد به اواز پورته کړي خو حیرانتیا دبشر د حقوقو دنړیوالو اداروپدې دومره اسلام دښمنۍ چې شپه ورځ دبشر د حقوقو نه ددفاع چغې وهي خو دلته ورته دبشریت پرضد داسرائیلو دا ستر ظلمونه نه ښکاري .

غزه دخپلو وسېدونکو لپاره په ستر قیدخانې بدله ده ،داسرئیلو له لوري یې دمحاصرې موده یوې لسیزې ته رسېدونکې ده ،دخوراکي توکیو دواګانو ،اودسون دموادو دکمښت له امله دغزې اوسېدونکي دسختو مشکلاتو سره مخامخ دي خو نړۍ ته دا هیڅ په نظر نه راځي ځکه چې دغزې اوسېدونکي مسلمانان دي او ظلم پرې داسرائیلو له لوري روان دی .

دقبضه شوي فلسطین ګاونډي هېواد شام کې هم دبشار الاسد دنصیري بې لارې ملېشو له لوري دمسلمانانو سره بې ساري ستر ظلمونه روان دي له ۷ میلیونو نه زیات مسلمانان بې کوره شول ؛ داسدي فوځ په مخامخ ډزو او بمبارۍو کې له ۱۰۰ زرو زیات مسلمانان ووژل شول خو دلته

هم نه یوائي دا چې نړۍ ددې ظلمونو دودرولو لپاره څه ونکړل بلکې دپردې ترشا ددې ټولو ظلمونو حامي وه او په راتلونکي کې یې هم لازیاتو ظلمونو ته هڅوي.

او همدا غربي نړۍ، وه چې دمصري فوځ په لاس یې دمحمد المرسي دقانوني دولت په رنګولو خپل رضایت وښود او بیا چې دفوځ دکودتا پرضد داعتراض کولو لپاره راټولو شوو خلکو باندې فوځ حمله وکړه او تر ۴ زرو پورې بې ګناه وګړي یې شهیدان کړل دلته هم همدا غربي نړۍ، وه چې دفوځ ددې ستر ظلم نه یې حمایت وکړ او دلته په ډېرې لویې سطحه بشري حقوق ترپښو لاندې شول.

په برما کې هم دمسلمانانو بدحالت له چا پټ ندی دتېرو څه دپاسه یو کال په موده کې دلته وحشي بودایانو نېږدې ۴۰ زره بې ګناه مسلمانان ووژل د ۵ زرو نه زیاتې مېرمنې دجنسي تېریو بنکار شوې د ۱۰ زرو په شاوخوا کې مسلمانان ژوندي ورک شول او ګڼ شمېر جوماتونه وسوځول شول خو نړۍ، ته نه دلته دبشر حقوق بنکارېدل او نه یې هم دظلم دا بنکار شوي وګړي انسانان ګڼل.

په انګولا کې اوس مسیحي دولت دلته دنېږدې ۵ سوه زرو اوسېدونکو مسلمانانو دجوماتونو دورانولو پرېکړه کړې، دمسلمانانو په ټولو فعالیتونو یې بندېز لګولی او اسلام یې ناقانونه مذهب اعلان کړ خو دبشریت پرضد په دولتي سطحه ددې ستر اقدام پرضد نه دملګرو ملتونو اداري څه اقدام وکړ او نه یې پرضد اواز پورته کړ ځکه چې دلته هم دظلم بنکار شوي وګړي مسلمانان دي او ټول اقدامات داسلام پرضد شوي.

په افغانستان او عراق کې چې داسلام او مسلمانانو پرضد داعلان شویو صلیبي جنګونو په لړ کې داشغالګرو له لورې دمسلمانانو کوم قتل عام رامنځته شو او په ډول ډول طریقو دبشر حقوق ترپښو لاندې شول نو پدې هکله خو به ځکه څه نه وایو چې دا خو هرڅه دملګرو ملتونو داداري په منظوري، دبشر دحقوقو دساتنې ستر اتلي امریکا په مشري کې ترسره شول

نو دبشر دحقوقو دساتنې په نوم د دسمبر د ۱۰ مې نېټې په یوائي لمانځلو کار نه کېږي ترڅو چې دنړیوالو له لورې عملي ژمنتیا نه چې له بده مرغه اوس دا ژمنتیا محال برېښي.

امریکایان دې ولولي !!

الف لام

سیکورټي، سمټي دیوال، اغزن سیم، شګلن بوجونه، سکوټ، ضد ذرې، بولیډپروف موټر اونور.... دېته ور ته کلمات هغه څه دي، چې تربل هروخت زیات مو هغه وخت وپېژندل کله چې دامریکامتحده ایالتونو دپراختیاغوښتنې عملي ګامونه واخیستل، تردې مخکې نړۍ ترډېره په امن کې ژونددرلود اوهیوادونو په خپل منځ کې ښه روابط ساتل.

دتېر 2013 کال دپېښودبېلابېلوارزونوپه لوستومې یوڅه ذهن ته راغله چې ترډېره یې تړاو له امریکایانوسره و، ځکه مې دلیکنې عنوان هم هغوی ته ځانګړی کړ.

نن په نړۍ کې ترټولو ستره ستونزه دامنیت نشتوالی دی چې په هیڅ ځای کې هیڅوک خوندي نه دي، داخولاڅه کوې چې دډېرو هیوادو ولسونه عملاً له جګړوسره لاس اوګرېوان دي.

که علت اواصلي لامل یې وپوښتو اوپل پسې واخلو، شاید وروستی پل یې ستاسې امریکایانو په درشل ودریږي، داخبره که په خپل حق کې تېری ګڼئ اولیکنه مې دتعصب زېږنده بولئ نوپاتې څونورې کرښې هم راسره ولولئ !.

زه چې کله دشلمې پېړۍ له اتیایمې لسیزې وروسته دیوېشتمې پېړۍ ترپیله نړۍ ځغلنده ترنظر تېره کړم نو که څه هم دیودوه هیوادوترمنځ به په پوله جګړې وې، ولې په ټوله کې دنړۍ په سطحه امنیت دځمکې له مخې داسې نه وورک شوی لکه دیوېشتمې پېړۍ له پیل سره چې ورک شو.

ټول بين المللي روابط اوحکومتي ديپلوماسي دولسونو په نړۍ کښت اواجتماعي چارو کې دپر مختګ په هڅومتمرکزې وې . ولسونو څومره په امن کې ژوند تېر اوه، سيلانيان اوديپلوماتان په څومره آزاده فضاکې هر هيواد ته له هرډول ګواښ اواندېښنې پر ته تلای شوای .

خودیوښتمې پېړۍ له پيل سره داهر څه دپرون کيسه شوه اوداخواړه نور هيڅوک نشي څکلی اوس ټوله هڅه له ځانه دفولادي ديوالونو تاوول اودخلکو له منځه لرې اوسيدل دي .

داچې په يوښتمه پېړۍ کې ددې ناخوالو پيل څنګه وشو ؟ شايددستمبريولسمې پېښې ته يې ګوته ونيول شي . خوپاده پېښه دنړۍ له اوسني ټول وضعيت سره له پر تله کولو وروسته ددې وضعيت لامل ګڼل ؛ عقل دابهام په سختوپېچلوپر دو کې رانغاړي، ټول نا امنه حالت ته دليل ګرځول يې دېرې داسې پوښتنې رابر سيره کوي چې ځواب به يې دبلې پوښتنې له زېرولو پر ته بل څه ونه لري .

دشکونو اوپوښتنو دغه تسلسل يوځه، چې ديقين په پوله دروي دپر اختياغوښتنې هغه اشتهاده چې متحده ايالات يې داطلس او آرام سمندرونو له منځه غځوي اومعلومه نه ده چې دناټوغړوهيوادو اوخپلوننې حليفانو ته به يې کومه ښټه ټاکلې وي تر څو ددوی تر سيطرې داسې راشي لکه داسياځينې هيوادونه يې چې دنوين ښکېلاک په ځواک رالاندې کړي .

ددې پوښتنې ځواب چې امريکايانو لومړی وار مسلمانان خپل هدف وګرځول اودبې رحمۍ هيڅ راز وسله يې ترې ونه سپمولې، هيوادونه يې لاندې اوپه لکونو يې ووژل، خو اوس يې کومه نتيجه په لاس کې لرې ؟

شايددوی يې ځينې ظاهري جهتونه په ګوته کړای شي، خو دقضيې نورو ابعادوته په پام سره دپر مهم څه ددوی اوددوی دحليفانو له ستر ګو پناه دي، اودا ديوې داسې سترې جګړې په محصول کې راتلل چې، پيل يې هم په مذهبي اصطلاح اوصليبي نوم شوی وي ؛ هغه ټکی دی چې دګټات اوبايلات قضاوت يې لوستونکي کولای شي .

اسلامي بيداري، فکري پيروي اوجهادي تصور اوس ددغو پر غلونواوظلمونو هغه نتيجه ده چې له دې مخکې په مسلمانانو کې دومره عامه نه وه، له ټولو هغو هڅو او ور ور تبليغاتوسره چې دجهاد

دکلمې دور ککولو لپاره تر سره شوو اوس جهاد په مسلمانانو کې دنجات یواځینی ذریعه ګڼل کیږي او مسلمان ځوانان تربل هر وخت ډېر پرې سر شاره او باریکبین دي .

هلته چې دهیچا په فکر اوخیال کې هم دجهاد کلمه په تصور کې نه راتله یایې ځایې حکومتونو په یو ډول مخه نیولې وه؛ نن یې دنړۍ ډېروبر خوته دجهاد دعوت رسولی اودهر جبر په وړاندې مقاومت یې کارنده نسخه بللې اوپه اسیا سربېره دافریقا ډېروبر خوته یې سرایت کړی چې افغانستان، عراق ، فلسطین، صومالیه، مالي، اریتریا، سوډان، سوریه، مصر ، یمن، برما، چیچن اونور یې یواځې دنمونې په ډول یادولی شو، اوبالاخره دامریکاپه منځ کې هم دغږ اخیستنې ډېرې داسې پېښې ثبت شوې چې تأثراو تحریک یې بیرته په عراق اوافغانستان کې دامریکایي سرتېرو له وحشي چلندنه اخیستل شوی و.



دادی وپوښتئ په هرځای کې چې وي یوورو کی ماشوم اوس جهاد اومجاهد پېژني نه یواځې داچې پېژني یې بلکې شوق اوتمرین یې ټول هغه څه وي چې دښمن مجاهدپې ترسره کوي .

ښه نو! اوس ددغې اسلامي بیداري اوځیر کتیا په راپیداکېدوسره چا بایللې اوچا ګټلې ؟

حقایق آشکار و پنهان سال ۲۰۱۳ میلادی

حبیب الله "هلال"

آخرین روز سال 2013 را در حالی پشت گذاشتیم که این سال از لحاظ تحولات و وقایع انجام گرفته در آن یکی از سالهای مشهود و متمایز در یک دهۀ اخیر بوده است. سال 2013 در حالی برای همه جوانب در گیر در افغانستان به پایان رسید که هر کدام از حکومت کابل و اشغالگران بیگانه از رسیدن به اهداف خود در عرصه های سیاسی ، نظامی، اقتصادی و اجتماعی خویش اظهار رضایت می کنند و تحلیلگران نیز به نوبۀ خود در مورد دست آوردها و ناکامی های آنها نظراتی را بیان می دارند. اما حقیقتا کدامیک از جوانب در گیر در معضلۀ افغانستان توانسته اند در این سال به اهداف خود برسند؟!

سال 2013 سال تکمیل پروسۀ انتقال مسئولیت های امنیتی از اشغالگران خارجی به نیروهای اجیر افغان بود که از آغاز انتقال خوشبینی های بسیاری در مورد تبلیغ می گردید ولی سکوت مرموز حکومت کابل و اشغالگران خارجی به تعاقب فتوحات مجاهدین امارت اسلامی از شمال کشور بدخشان ، فاریاب ، سرپل و بادغیس گرفته تا ولایات جنوبی و جنوب شرقی حقائق میدانی و ناکامی های نیروهای اجیر داخلی در تحکیم و استحکام ثبات و حفظ مناطق را بر همگان آشکار نموده و ثابت ساخت که این تربیت یافتگان غرب و صلیب نیز همانند باداران خود بسوی لانه های بزرگتر و گویا امن تر خود در حال خزیدن هستند. جنگها و مقاومت های ماهوار و هفته وار مجاهدین در بدخشان، فاریاب و بادغیس (ولایات شمال کشور) که نقطۀ ثقل استحکام حاکمیت رژیم کابل دانسته می شود، بیانگر این حقیقت است که حکومت هیچگاهی توانائی مقاومت و نگهداری مناطق و ولایات جنوب که به عنوان خانه های مجاهدین یاد می شوند، را نخواهد داشت.

کرزی نیز که روزی خواهان انتقال قدرت بود، بعد از مشاهدۀ شکست های پی در پی نیروهای حکومتی با مجاهدین از قوتهای خارجی انتقاد کرد و در مصاحبه ای با بی بی سی در ماه اکتوبر گفت که " قوتهای خارجی بعد از گذشت بیش از یک دهه ماموریت نظامی ثبات را در افغانستان تامین نکرده است در بخش امنیتی،

فعالیت های نظامیان خارجی باعث رنج های زیادی گردیده که جان های زیادی گرفته شد و دست آوردی وجود ندارد زیرا که کشور حالا امنیت ندارد. منشی ناتو نیز در پاسخ کرزی گفت که هدف انها تقویت نیروهای افغان بوده است نه تامین امنیت کشور بدین معنا اکنون که جنگ افغانستان به بن بست رسیده است هریک از طرفهای اجیر و اشغالگران میخواهند دیگری را در نزد ملت و جهانیان مقصر و مسئول نشان دهند. عملی نمودن پروسهء انتقال در حقیقت خلاصی و رهایی اشغالگران از این مسئولیت مرگبار و خطیر بود. که متعاقبا افزایش بی سابقهء تلفات عساکر اجیر حکومت کابل را نیز در پی داشت که منجر به تسلیمی و فرار این عساکر از پوسته ها و مراکز نظامی گردیدند. که بزرگترین مثال ان هلاکت بیش از 242 تن از قومندان بلند رتبهء حکومتی در جریان شش ماه اخر امسال است.

علاوتاً تسلیمی و پیوستن ماهوار صدها تن از منسوبین حکومت کابل (عساکر اردو، پولیس و اربکی) خود نمایانگر حقانیت امارت اسلامی و بالادستی وضعیت نظامی مجاهدین است که در هریک از ماه های می تا سپتمبر 2013 میلادی به ترتیب 522، 479، 876، 505 و 592 از منسوبین حکومت کابل به مجاهدین پیوستند. در حقیقت مشاهدهء وضعیت میدانی این تعداد کثیر از افراد حکومتی را خواسته و ناخواسته به جدائی از نظام منفور کابل واداشته که البته تعداد عساکر پولیس و اردو که از صفوف نظامی فرار کرده اند نیز کم نیست و اگر افزایش بی سابقهء تلفات عساکر اجیر را نیز به ان اضافه کنیم. شاهد افت مثال زدنی در رژیم کابل در عرصهء نظامی و محاربوی هستیم. البته باید گفته شود که تلفات جانی اشغالگران نیز کم نبوده است. که از جملهء مهمترین آنها میتوان به حملات بر چهار راهی آریانا، مرکز قومندانی استخبارات امریکا(CIA) در کابل و همچنین حملهء بر PRT در غزنی و قونسلگری آمریکا در ولایت هرات نام برد. که تلفات جانی سنگینی به مقامات و منسوبین اشغالگران امریکائی و خارجی وارد نمود.

حکومت کابل بعد از رشد و گسترش فساد در وزارتخانه های عدلیه، داخله، معادن.....و حتی معارف و صحت زمینهء فراهم آوری سرمایه های انگفت برای مقامات خویش در داخل و در سطح بین المللی نیز سبب صعود افغانستان به قلهء فساد و کسب مقام فاسد ترین کشور سال در سراسر جهان گردید که این در حقیقت یکی دیگر از هدیه های دیموکراسی و ساختار حکومت مزدور را نمایان ساخت. زیرا فقط افراد شامل در نظام اجیر و گذرا بخاطر مساعد بودن چنین اوضاعی حاضر به بردگی و مزدور گرائی هستند. چون میتوان از هر راه وروش قانونی و غیر قانوی سرمایه جمع نمود. بدون آنکه ترس از فردای حسابی داشته باشی و گرنه چرا یک انسان عاقل و دانا تن به چنین ذلت و رسوائی می دهد.

یکی دیگر از وقایع ثبت شده در صفحات سال 2013 را میتوان رویداد انجام گرفته در ولایت میدان وردگ عنوان کرد که در کنار جنایات اشغالگران امریکائی قتل و کشتار مظلومانه 18 تن از هموطنان در میدان وردگ یک رویداد تکان دهنده بود که در ان اشغالگران با یورش و تجاوز به منازل و خانه های مردم ملکی انها را به قرارگاه های خود می بردند و به شکل وحشیانه ای به شهادت رسانده و اجسادشان را زیر خاک دفن می کردند، و همچنین شهادت 23 تن از اعضای یک خانواده در ولایت لوگر که برای مراسم عروسی فرزندشان، دوستان و خویشاوندان را جمع نموده بودند که در نتیجهء بمباران اشغالگران وحشی چندین خانواده بطور مکمل به شهادت رسیدند و این دو حادثه جزئ یکی از وقایع دردناک و قابل ذکر بزرگ امسال بودند این حوادث جرئت و اختیار عساکر امریکائی و حکومت امریکا را بصورت عموم در مورد زور و توانائی انها نشان می دهد که حتی اعمالی که انها در کشور خودشان به هیچ شکل و شیوه ای نمی توانند، انجام دهند را میتوانند در افغانستان به طرز دلخواهشان انجام داده و هیچگونه فکر و تشویشی نیز در مورد نداشته باشند، پس وآی از روزیکه به انها مصئونیت قضائی نیز بدهید؟!

از جمله وقایع سال 2013 میلادی که میتوان به ان نیز اشاره نمود، کاندیداتوری تعداد کثیری از کمونیستان، وطن فروشان، جنایتکاران و پرورده های غرب از احزاب و جهت های مختلف برای رسیدن به منصب ریاست مزدوری بود که جنجالهای زیادی را در داخل و خارج برپا کرد، طولانی شدن لیست کاندیداتوری و حذف افراد بی بضاعت و کمزور از لیست به علاوه سخپرانی های، معاملات انجام گرفته در این دوران در نوع خود حقیقت حکومت دست نشانده را نمایان کرده و رسوائی کامل برای تمام کاندیدان این منصب بود.

اما ننگین ترین و شرم ناکترین عمل اجیران و مزدوران غرب و صلیب در سال 2013 تائید و امضاء قرارداد امنیتی با امریکا بود که در ان در کنار وطن فروشی، ملت فروشی و خود فروشی، اختیار و ازادی کامل قتل و کشتار ملت افغان را در اعطای حق مصئونیت قضایی به نظامیان اشغالگر در بدل چند وعده نان چرب و گرم اعطاء کردند. این پیمان مشهود ترین عمل در یک دهه حضور و وجود اشغالگران و عملی ننگین بنام عده، خاصی از وطن فروشان ثبت تاریخ گردید. اشغالگرانی که بدون اعطائ مصئونیت نیز از هر گونه تعقیب و گریز مصئون هستند، خواستند تا با چنین عملی مسئولیت یک دهه خونریزی و آنچه بعد از این اتفاق می افتد را به گردن، عده ای خاص از شکم پرستان افغانی بیندازند.

یکی دیگر از وقایع مهم روزهای اخر سال 2013 میلادی ثبوت بیگناهی هزاران زندانی در زندان های مخوف وظالم حکومت اجیر و اشغالگران خارجی بود که رئیس کمیسیون تعیین شده خود اعتراف نمود که

اکثریت قریب به اتفاق زندانیان بیگناه گرفتار ، زندانی و شکنجه شده اند، او استعمال کلمهء خطرناک و خطرناکترین و یا اتهام قومندان بلندر تبهء طالبان و حزب اسلامی از سوی امریکائی ها برای هریک زندانی را مضحک عنوان کرد. این بی گناهی زندانیان در حالی عنوان می شود که اکثریت انها سالهای سال را در زندان بگرام نزد اشغالگران خارجی زندانی بودند، و به شکل های مختلفی شکنجه شده و عده ای نیز در زندان به شهادت رسیده اند.

سال 2013 میلادی سال خروج قوتهای اشغالگر خارجی خصوصاً کشورهای عضو ناتو بود، زیرا بعد از سپری شدن بیش از یک دهه ناتو نتوانست اهدافی را که به حصول ان در افغانستان خوش بین بود بدست اورد، بنأ هریک از کشورهای عضو به طور مستقلانه تصمیم به خروج نیروهای خود از افغانستان گرفته و تعدادی خروج عساکرشان را تکمیل و بعضیها نیز در حال تکمیل خروج هستند.

علاوه بر اینها حوادث و واقعات بسیاری در جریان امسال اتفاق افتاد که قانون اساسی، نظام دیموکراسی، جوامع مدنی و احزاب سیاسی و حقوق بشری ساخته خود آنها را در دوران سال 2013 میلادی به تمسخر گرفته شد که همهء اینها را میتوان از دست آوردهای دیگر نظام تحمیلی یاد کرد. علاوه بر این طولانی شدن جنگ، افزایش تلفات ملکی، تعرض به مقدسات، رعایت نکردن قوانین ساختهء خودشان، تلاشی‌های خودسرانه و دستگیری اتباع افغانستان توسط خارجی‌ها، شکنجه افغان‌ها در زندان ها و مراکز نظامیان خارجی، بیکاری، گرانی مایحتاج اولیه مردم، محدود شدن سلطه و حاکمیت رژیم کابل، افزایش ناامنی‌ها، فساد اداری روزافزون و... همه و همه اتفاقاتی است که از یک دهه بدینسو در جریان است ولی در سال 2013 به پائین و بدترین حد خود رسید. اگر در سال 2013 حکومت اجیر تنها با چالش امنیتی مواجه بود، و در این یگانه چالش شکست خورد، چگونه خواهد توانست علاوه بر امنیت با چالش های سیاسی، انتخاباتی، اقتصادی و اجتماعی کنار امده و مقاومت کند.

ما در مدت چهل سال اخیر ، ایدیولوژی ها و دستورات تحمیلی مختلف جهان را تجربه کردیم. هریک از این ایدیولوژی ها تلاش داشتند تا یک مشروعیت سیاسی را در افغانستان کسب کنند و بتوانند در این کشور بالای ملت افغان حکومت کنند، اما دیدیم که این ایدیولوژی ها شکست خوردند. زیرا یگانه دستور و قانونی که ملت افغانستان خود را به اطاعت و پیروی از ان مکلف میدانند، دین و آئین اسلام است و این ملت تنها با قائم شدن نظام کامل اسلامی راضی می شوند. بنأ من متیقن هستم که در سال آیندهء 2014 میلادی مجاهدین در عرصهء نظامی خواهند توانست موفقیت های جاری خویش را ادامه داده و روند انرا تسریع ببخشند

د امیر اطاعت د قرآن او حدیث په رڼا کښې

مولوي سیلاب (عمر)

خدای جل جلاله له خوا په درېمه درجه کې ټاکله شوې ده ، په دې اړوند پروردګار جل جلاله د سورت النسآء په (۵۹) آیت کې داسې فرمایي :

قال الله تعالى :{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ } .

ژباړه : اي !هغو کسانو چې تاسو په الله او د هغه په رسول ایمان لرونکي یی ، (یعني د هغه په شرع عمل کوی) د الله خبره ومنئ (د هغه نافرمانی مکوئ) او د هغه د رسول خبره ومنئ (چې د خدای له خوا یې حق پیغامونه راوړي دي) او پرتاسو باندي د حکم د څښتنانو خبره ومنئ (په دې شرط چې معصیت پکښې نه وي).

په پورتني آیت کې خبره واضح شوه چې لومړی به د الله جل جلاله اطاعت کوئ او دویم د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او درېم دهغه امیر د امر چې (منکم) صفت ولري یعني ستاسو غوندي ایمان لرونکی او د خدای جل جلاله شرع ته ژمن وي ، څوک چې لومړی د خدای خبري ته ژمن دي نو هغه الله د هغه امیر د امر د اتباع حکم صادر کړ چې هغه د الله جل جلاله په اتباع کې وي ، معلومه شوه چې د امیر واک ، نفوذ او دهغه د اتباع مراتب په انتظامي امورو کې د خدای جل جلاله له خوا ټاکل شوي دي ، له همدې امله رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمَنْ أَطَاعَ الْأَمِيرَ وَقَالَ وَكِيعٌ الْإِمَامَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ عَصَى الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي وَقَالَ الْإِمَامَ فَقَدْ عَصَانِي . مسند الإمام أحمد بن حنبل برقم (٧٤٢٨) ج (٢)صـ (٢٥٢). تعليق شعيب الأرنؤوط وقال : إسناده صحيح على شرط الشيخين .

ژباړه : حضرت ابوهريرة رضی الله عنه وويل : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : څوک چې زما اطاعت وکړي، په یقیني ډول هغه د الله اطاعت وکړ، څوک چې زما نافرماني وکړي په یقیني ډول هغه د الله نافرماني وکړه ، او څوک چې د امیر اطاعت وکړي (حضرت وکیع وویل : امام) په یقیني ډول هغه ځما اطاعت وکړ ، څوک چې د امیر نافرماني وکړي په یقیني ډول هغه ځما نافرماني وکړه .

په حقیقت کې د الله جل جلاله ، د رسول صلی الله علیه وسلم او د امیر د اطاعت حکم الله جل جلاله صادر کړی دی نو ځکه اطاعت کول اونه کول دواړه الله جل جلاله ته راجع کیږي .

له شرعي امیر سره د بیعت اهمیت

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ : سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم سَمِعَتْهُ يَقُولُ :« مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ لَقِيَ اللهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ حُجَّةَ لَهُ وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً ». أخرجه مسلم

أخرجه مسلم (عن ابن عمر)في صحيحه (١٤٧٨/٣ ، رقم ١٨٥١) . وأخرجه أيضا : أبو عوانة (٤١٥/٤ ، رقم ٧١٥٣) ، والبيهقي (١٥٦/٨ ، رقم ١٦٣٨٩) . قال الحاكم ، والالباني ،وأيمن صالح شعبان صحيح

ژباړه : حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وویل : ما په خپله له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل ، هغه داسي وفرمایل : کوم څوک چې له اطاعت څخه تش لاسی وي ، د قیامت په ورځ به د الله حضور ته په داسي شان وړاندي شي چې د ځان په ګټه به هیڅ سند ونه لري ، او څوک چې په داسي حال کې مړشي چې د بیعت کړی یې په غاړه کې نه وي ، نو هغه د جاهلیت په مړینه مړ دی .

یعني په کومه زمانه کې چې شرعي امیر وجود ولري او بیعت ورسره ونکړي نو د مسلمانانو له جماعت څخه جلا شو د جاهلیت د زمانې په توګه بې بیعته او بې جماعته مړ

شوی دی اوکه په کومه زمانه کې شرعي امیر وجود ونلري نو د فترت زمانه ده معذور ګڼل کیږي ، له دې حدیث شریف څخه د بیعت او اطاعت اهمیت په لوړه کچه څرګند شو .

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ : دَعَانَا رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَبَايَعْنَا وَأَخَذَ عَلَيْنَا السَّمْعِ وَالطَّاعَةَ فِي مَنْشَطِنَا وَمَكْرَهِنَا وَعُسْرِنَا وَيُسْرِنَا وَأَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَأَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ قَالَ إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنَ اللهِ فِيهِ بُرْهَانٌ. رواهُ البخاری

ژباړه : حضرت عبادة بن الصامت رضی الله عنه وویل : رسول الله صلی الله علیه وسلم وغوښتو او د بیعت په ترڅ کې داسي شرطونه په موږ ولګول : اطاعت به کوئ ، که موږ پرې خوښ وو یا نا خوښه ، که موږ شتمن وو یا محتاج ،که څه هم موږ له خپلو حقوقو بې برخې پاتې شو او په دې خبره چې امیر به له واک څخه نه ایسته کوو ، مګر هغه وخت چې برېنډ کفر ترې څرګند شي ، او تاسي ته ثابته شي چې الله په صراحت او قاطعیت داسي کړه وړه حرام ګڼلي دي .

۱۱۲ قوماندان فرید د ۸ میاشتې په ۲۵ تاریخ دګرشک په بازار کې چې دتاجکانو دپوستې قوماندان وو له پوستې سره قتل شو

۱۱۳ معاون برګیټ د ۸ میاشتې په ۲۶ تاریخ دهلمند دناوې په عینک کې له خپلې پوستې سره ووژل شو

O ۱۱۴ قوماندان ولي اویو سانونکی د ۸ میاشتې په ۲۸ تاریخ دغور په چارصده فلاخر سیمه کې ووژل شو

۱۱۵=۱۱۶ دفراه دپولیسي کندک رئیس ارکان او دتروریزم دځانګې مرستیال همایون خان او دخاد مرستیال بشیر خان سره له ۱۵ نورو عسکرو په یوه خونړۍ نښته کې د ۸ میاشتې په ۲۸ تاریخ دفراه دکلستان او بکواتر منځ په فیتاوک کې ووژل شول

1 ۱۱۷ معاون پهلوان دفراه ناامنیت معاون د ۸ میاشتې په ۲۸ تاریخ دکندهار جامعه عمر سره ووژل شو

۱۱۸=۱۱۹ قوماندان وکیل او قوماندان انګار د ۸ میاشتې په ۲۸ تاریخ دساروان کلا کې په جنګ کې ووژل شول

O ۱۲۰ قوماندان محمد خان د ۸ میاشتې په ۲۸ تاریخ دساروان کلا کې په جنګ کې ووژل شول

۱۲۱ افسر عزیز د ۸ میاشتې په ۳۰ تاریخ ددمرجې په تریخ ناور کې سره له ۸ نورو عسکرو په مایین لوپه شو

۱۲۲ دارغنداب قوماندان د ۸ میاشتې په ۲۸ تاریخ دزابل مرکز په هفه برید کې ووژل شو چې آصف قوماندان وتښید

۱۲۳ قوماندان عسکر ۹ میاشتې په ۱ تاریخ دزابل شملزو کلارشید په جنګي برج کې سره له ۸ نورو عسکرو ووژل شو

۱۲۴ دهرات دمرافعې رئیس حاجي خواجه ۹ میاشتې په ۳ تاریخ دهرات په بنار کې ووژل شول
۱۲۵ قوماندان عمر ګل د ۹ میاشتې په ۴ تاریخ دساروان کلا په زیدانانو کې سره له ۶عسکرو ووژل شو
۱۲۶ قوماندان سلام د ۹ میاشتې په ۳ تاریخ دفاریاب ګرزیوان په قزاق کې سره له ساتونکي ووژل شو
۱۲۷ قوماندان پیروز د ۹ میاشتې په ۴ تاریخ دمیوندله لوبې قرارګاه سره ووژل شو
۱۲۸ مامور قاسم د ۹ میاشتې په ۶ تاریخ ددکندهار بنار کې دعبدالرب اخونزاده له جامعې سره ووژل شو
۱۲۹ قوماندان اسحاق زی ماما سره له ۳نورو عسکرو د ۹ میاشتې په ۷ تاریخ دمرجې په تریخ ناور کې ووژل شو
۱۳۰ مامور ناصر د ۹ میاشتې په ۷ تاریخ دهرات په شیندند بازار کې ووژل شو
۱۳۱ قوماندان روزګان د ۹ میاشتې په ۸ تاریخ دزابل دشورې له بناره سره ووژل شو
۱۳۲ قوماندان قدرت خان د ۹ میاشتې په ۱۰ تاریخ دشیندند په زیر کوه کې په جنګ کې ووژل شو
۱۳۳ بدنام اربکی زعفران د ۹ میاشتې په ۱۱ تاریخ دکندهار په ارغستان کې ووژل شو
۱۳۴=۱۳۵ قوماندان خنجر او قوماندان سنګربار د ۹ میاشتې په ۱۱ تاریخ دموساکلا په دیهي کاریز کې ووژل شول
۱۳۶ قوماندان ظریف د ۹ میاشتې په ۱۳ تاریخ دکندهار دبنار دمحبس شاته له خپلې پوستې سره نیژدې ووژل شو
۱۳۷ قوماندان ابراهیم خان دټول ولایت داربکیانو مشر سره له ۷عسکرو د ۹ میاشتې په ۱۷ تاریخ دبادغیس دره بوم خوش نو کې ووژل شو
۱۳۸ قوماندان کامران د ۹ میاشتې په ۱۷ تاریخ دروزګان چارچینو په سیاسنګ کې ووژل شو
۱۳۹=۱۴۰=۱۴۱ دملي ناامنیت مدیر حبیب الله او دسرحدي پولیسو قوماندان نقیب الله او امنیه قوماندان عبدالوف د ۹ میاشتې په ۱۸ تاریخ دهلمند خانشین په ولسوالۍ ودانۍ کې ووژل شول
۱۴۲ قوماندان محمد خان د ۹ میاشتې په ۱۸ تاریخ دمعروف په اسحاقزو کې ووژل شو سره له یوه ملګري
۱۴۳ قوماندان وطن د ۹ میاشتې په ۱۹ تاریخ دموساکلا په بغني کې ووژل شو
۱۴۴=۱۴۵=۱۴۶ قوماندان زمري قوماندان محمدخان قوماندان ګلالي چې دپوستو مشران ول د ۹ میاشتې په ۱۹ تاریخ دباباجي په کوپکه کې ختم شو
۱۴۷=۱۴۸=۱۴۹ قوماندان بسم الله غوندی سره له دوو نورو مشرانو د ۹ میاشتې په ۲۰ تاریخ دژرۍ په نلغام کې ووژل شول
۱۵۰ قوماندان محمد ګل د ۹ میاشتې په ۲۲ تاریخ دمرجې به خاشو سیمه کې ووژل شول
۱۵۱ قوماندان عبدالرحمن د ۹ میاشتې په ۲۳ تاریخ دغور په دولینه کې دخپل کور مخ ته ووژل شو
۱۵۲ قوماندان ناصر د ۹ میاشتې په ۲۵ تاریخ دارغستان په سپینه ګاره کې ووژل شو
۱۵۳ قوماندان نبي جان او دوه ساتونکي د ۹ میاشتې په ۲۵ تاریخ دغور په شینکوټ مرکز کې ووژل شول

۱۵۴ قوماندان سلیم د ۹ میاشتې په ۲۶ تاریخ دمرجې په تریخ ناور میر حمزه بلاک کې قتل پوسته یې فتح او اسلحه یې غنیمت شوه

۱۵۵ قاضي عبدالرزاق د ۹ میاشتې په ۲۸ تاریخ دهرات په غوربان کې چې دنوموړي ولسوالي فاسد او رشوت خور قاضي وو قتل شو

۱۵۶ قوماندان ګل لاله د ۹ میاشتې په ۲۹ تاریخ دزابل شاجوی په جمالخیلو کې ووژل شو

۱۵۷ قوماندان کاکی د ۹ میاشتې په ۳۰ تاریخ دمرجې دقوماندانی مخته سره له دروساتونکو دذاکر لغوا په فدایي برید کې ووژل شول

۱۵۸ قوماندان نعیم د ۹ میاشتې په ۳۰ تاریخ دغور په شینکرټ کې ووژل شو

۱۵۹ قوماندان محمد د ۱۰ میاشتې په ۲ تاریخ دفاریاب بل چراغ تاش کلا کې ووژل شو

۱۶۰ = ۱۶۲ قوماندان تورجان او سر ګروف رباطی د ۱۰ میاشتې په ۲ تاریخ ډنډ په رمباسی کې ووژل شول

۱۶۳ = ۱۶۴ دګر مسیر بنار وال داوود او مرستیال یې نذیر د ۱۰ میاشتې په ۳ تاریخ دهلمند دناوې دتانګانو په ګودر کې په ماین ختم شول

۱۶۵ قوماندان بسم الله د ۱۰ میاشتې په ۴ تاریخ دمرجې په تریخ ناور کې سره له ۸عسکرو په خپله پوسته کې ووژل شول اسلحه یې غنیمت شوه

۱۶۶ قوماندان عبدالغفار د ۱۰ میاشتې په ۶ تاریخ دفاریاب اندخوی په مرکز کې سره له دوو ساتونکو ووژل شو

۱۶۷ د کشف معاون نعیم خان د ۱۰ میاشتې په ۸ تاریخ دفراه بشت کوه مرکز کې ووژل شو

۱۶۸ قوماندان ظاهر توریالی د ۱۰ میاشتې په ۸ تاریخ د دایه کوندي په ګیزاب کې ووژل شو

۱۶۹ قوماندان رحمت الله سره له ۱۲عسکرو د ۱۰ میاشتې په ۹ تاریخ دهلمند دبنوراب (باسچن) په دروازه کې په فدایي برید کې ووژل شول

۱۷۰ معاون محمد عیسا د ۱۰ میاشتې په ۱۰ تاریخ د کندهار پاشمول کې دزیدانانو دپوستې مشر ووپه خوشاب کې ووژل شو

۱۷۱ قوماندان بناشته خان د ۱۰ میاشتې په ۱۱ تاریخ دمرجې په کاریز صدي کې سره له ۴عسکرو ووژل شو

۱۷۲ قوماندان ګلاب د ۱۰ میاشتې په ۱۲ تاریخ دموسا کلا په احمدخانزو کې سره له ۳عسکرو په ماین ختم شو

۱۷۳ = ۱۷۴ قوماندان محمدعمر او قوماندان سید عمر د ۱۰ میاشتې په ۱۲ تاریخ دهرات دچشت په اوریح کې په کمین کې ووژل شول

۱۷۵ قوماندان داوود د ۱۰ میاشتې په ۱۳ تاریخ دمرجې په وکیل وزیر چاراهي کې ووژل شو

۱۷۶ قوماندان صدیق الله (حاجي نیکه) د ۱۰ میاشتې په ۱۳ تاریخ د کندهار بولدک په رباط کي له خپلې پوستې سره ووژل شو

○ قوماندان خداداد د ۱۰ میاشتې په ۱۳ تاریخ دبادغیس مقر په خارانو کي ووژل شو اسلحه یې غنیمت شوه

۱۷۸ معاون ودود د ۱۰ میاشتې په ۱۴ تاریخ دژړۍ په نادي کي له خپلې پوستې سره ووژل شو

۱۷۹ صاحب منصب عبدالخالق د ۱۰ میاشتې په ۱۷ تاریخ دزرنج په ښار کي ووژل شو

۱۸۰ قوماندان ملهم (جوسره) د ۱۰ میاشتې په ۱۸ تاریخ دفراه بالابلوک کنسک کي ثره له ۳ نورو عسکرو په ماین ختم شو

۱۸۱ = ۱۸۲ قوماندان عبدالحق جنبیشی او دملي نا امنیت آفسر حفیظ الله خان د ۱۰ میاشتې په ۱۸ تاریخ دفاریاب مرکز سربلاق کي قتل شول

۱۸۳ د کوماندو قوماندان محمد عالم خان د ۱۰ میاشتې په ۱۸ تاریخ دسربل مرکز کهنه بازار کي ووژل شو

۱۸۴ قوماندان آغامراد د ۱۰ میاشتې په ۱۹ تاریخ دفاریاب دولت اباد په خیر اباد کي ووژل شو

۱۸۵ بدنام خادی عبدالبصیر د ۱۰ میاشتې په ۲۰ تاریخ دهرات ګوزرې په چاربرجک پل ملان کي ووژل شو

۱۸۶ قوماندان عصمت د ۱۰ میاشتې په ۲۱ تاریخ دفاریاب خواجه موسا غار تیپه کي ووژل شو

۱۸۷ قوماندان جهاني د ۱۰ میاشتې په ۲۴ تاریخ د کندهار غورک په ونو سیمه کي سره له ۵ نورو اربکیانو ووژل شو

۱۸۸ قوماندان عبدل د ۱۰ میاشتې په ۲۵ تاریخ دغور په دولینه کي ووژل شو

۱۸۹ دتروریزم رئیس توریالی د ۱۰ میاشتې په ۲۸ تاریخ دهرات کرخ په بازار کي ووژل شو

۱۹۰ قوماندان اکبر د ۱۰ میاشتې په ۲۹ تاریخ دنوزاد بازار په شین غزو کي ووژل شو

○ قوماندان سید شا (کلی) د ۱۰ میاشتې په ۲۹ تاریخ د کندهار دامان دترنک دپله په پوسته کي سره له ح عسکرو په تاکتیکی ډول قتل شو

۱۹۲ اربکی قوماندان اخونزاده د ۱۰ میاشتې په ۳۰ تاریخ دژړۍ دګارط په ګودر کی ووژل شو

۱۹۳ قوماندان یحیی د ۱۰ میاشتې په ۳۰ تاریخ دخانشین په تاغز کي ووژل شو

۱۹۴ قوماندان حسینا د ۱۰ میاشتې په ۳۱ تاریخ دغور په شینکوټ کي ووژل شو

۱۹۵ دشاهین قطعې جنرال قوماندان امان الله سره له ۲۳ تنو عسکرو به یوه خونړي برید کي د ۱۱ میاشتې په ۱ تاریخ په فاریاب المار کي ووژل شو

۱۹۶ قوماندان بیدار نقیب الله د ۱۱ میاشتې په ۱ تاریخ د کندهار ارغستان په باغ سیمه کي سره له ۳ ساتونکو ووژل شو

۱۹۷ قوماندان ابراهیم د ۱۱ میاشتې په ۲ تاریخ دروزګان په چارچینو دخود په بالا دښت کي ووژل شو

۱۹۸ قوماندان ډنګر د ۱۱ میاشتې په ۴ تاریخ دمیوند بند تیمور په خاور و سیمه کې ووژل شو

۱۹۹ دجنایي جرمونو مسؤل او درازق ملګری محمد ظاهر د ۱۱ میاشتې په ۵ تاریخ د کندهار بنار خوجم بابا کې ووژل شو

۲۰۰ قوماندان نافذالله د ۱۱ میاشتې په ۷ تاریخ دزابل په مرکز کې ووژل شو

۲۰۱ فرقه مشر محمد عمر او ۶ ملګري د ۱۱ میاشتې په ۶ تاریخ دزابل په مرکز کې ووژل شول

۲۰۲ اربکی ساز ملک باریګل د ۱۱ میاشتې په ۷ تاریخ په روزګان دهراود بازار کې ووژل شو

۲۰۳ = ۲۰۴ قوماندان ولي محمد او قوماندان ابوبکر د ۱۱ میاشتې په ۸ تاریخ د کندهار غورک کړ کوشم سیمه کې ووژل شول

۲۰۵ معاون هستي ګل د ۱۱ میاشتې په ۸ تاریخ دژۍ په سلیم کاریز کې سره له ۵ عسکرو ختم شول

۲۰۶ قوماندان قاسم د ۱۱ میاشتې په ۸ تاریخ دمرجې په عبادالله قلف مستوخان چاراهي کې سره له ۳ نورو عسکرو ووژل شو

۲۰۷ د کندهار دشورامرستیال مولوي عطامحمد د ۱۱ میاشتې په ۱۱ تاریخ د کندهار بنار په چوک مدد کې ووژل شو

۲۰۸ قوماندان قطب الدین د ۱۱ میاشتې په ۱۳ تاریخ دسرپل دګوسپندي په اولمه کې سره له دوو ساتونکو قتل شو

۲۰۹ قوماندان حقمل د ۱۱ میاشتې په ۱۵ تاریخ دموساکلا په چغاله کې سره له ۴ عسکرو ووژل شو

۲۱۰ قوماندان سرباز د ۱۱ میاشتې په ۱۶ تاریخ دمعروف په ساګزو کې ووژل شو

۲۱۱ قوماندان چمن د ۱۱ میاشتې په ۱۷ تاریخ دزابل دشوري په لوړ ګي کې ووژل شو نوموری دعمرزو دبوستي قوماندان وو

۲۱۲ قوماندان محمد خان د ۱۱ میاشتې په ۱۸ تاریخ دترینکوټ دهراود توغي کې سره له ۴ عسکرو قتل شو

۲۱۳ قوماندان سوالیشاد ۱۱ میاشتې په ۱۹ تاریخ دروزګان دچورې په زردیګي کې ووژل شو

۲۱۴ قوماندان نظر د ۱۱ میاشتې په ۱۹ تاریخ دترین کوټ دهراود بازار کې ووژل شو

۲۱۵ = ۲۱۶ دمرجې قوماندان امنیه حاجي توربالی او قوماندان (مرګ) چې دتریخ ناور دپوستې مشر وو د ۱۱ میاشتې په ۲۰ تاریخ په سستاني کې ووژل شول

۲۱۷ قوماندان عبدالرحیم د ۱۱ میاشتې په ۲۰ تاریخ دمرجې په کاریز صدي کاکړ انو کې ووژل شو

۲۱۸ قوماندان شمس الله د ۱۱ میاشتې په ۲۰ تاریخ په معروف امني بند کې ووژل شو

۲۱۹ قوماندان داوود د ۱۱ میاشتې په ۲۱ تاریخ دګرم سیر په درویشان کې له خپلې پوستې سره نیژدې ووژل شو

۲۲۰ قوماندان حاجي سرور د ۱۱ میاشتې په ۲۲ تاریخ دفاریاب پښتونکوټ میان دره کې ووژل شو

۲۲۱ قوماندان سعدالله د ۱۱ میاشتې په ۲۳ تاریخ دغور په شهرک کې ووژل شو

۲۲۲ دشورا غړی حاجي قدیر د ۱۱ میاشتې په ۲۴ تاریخ د کندهار په ارغنداب کي ووژل شو

۲۲۳ قوماندان (کاسد) د ۱۱ میاشتې په ۲۵ تاریخ دخاص روزګان په شالۍ ناوه کي ووژل شو

۲۲۴ اکمالاتي مسئول صمد د ۱۱ میاشتې په ۲۵ تاریخ دهرات په پښتون زرغون کي ووژل شو

۲۲۵ حاجي محمد رسول د کوچیانو نماینده د ۱۱ میاشتې په ۲۸ تاریخ دزابل په قلات بنار کي دار تباطي په توسط ووژل شو

۲۲۶ قوماندان همکار د ۱۱ میاشتې په ۲۸ تاریخ دنادالي په سیدآباد کي ووژل شو

۲۲۷ خادی جمع گل چي دمجاهدینو دخپلوانو کورونه به یې ور نړول د ۱۱ میاشتې په ۲۹ تاریخ د کندهار بنار له شرکت میوې سره ووژل شو

۲۲۸ د ګروال عبدالاحد د ۱۲ میاشتې په ۴ تاریخ دمرجې په شیخانو بلاک کي سره له ۳ نورو عسکرو ووژل شو

۲۲۹ قوماندان منصور د ۱۲ میاشتې په ۵ تاریخ دموساکلا په یتیمجي کي سره له دوو نورو عسکرو ووژل شو

۲۳۰ قوماندان توتي د ۱۲ میاشتې په ۷ تاریخ سره له څلورو عسکرو د ګرشک په میرمنداب کي ووژل شو

۲۳۱ قوماندان عبدالواحد د ۱۲ میاشتې په ۱۴ تاریخ دفاریاب لولاش په تاخیلو کي ووژل شو

۲۳۲ قوماندان نیک محمد طوفان د ۱۲ میاشتې په ۱۶ تاریخ ددهراود په باز ګیر کي ووژل شو

۲۳۳ دهرات دقول اوردو د تفتیش آمر نجم الدین د ۱۲ میاشتې په ۱۹ تاریخ دهرات په بنار کي ووژل شو

۲۳۴ قوماندان جمال ناصر ننګرهاری چې دزابل داغنداب او خاک افغان ولسوالیو دملي اوردو دمهم ۲۵۰ کنډک قوماندان وو د ۱۲ میاشتې په ۲۰ تاریخ په ارغنداب کي ووژل شو

۲۳۵ بریدمن صفی الله د ۱۲ میاشتې په ۲۳ تاریخ دهرات بنار په چکان سیمه کي ووژل شو

۲۳۶ قوماندان حاجي ګران د ۱۲ میاشتې په ۲۵ تاریخ دنادعلي په سیدآباد کي ووژل شو

۲۳۷ قوماندان قلم یار د ۱۲ میاشتې په ۲۶ تاریخ دنادعلي په چانجیر کي سره له ۴ نورو پولیسو ووژل شو

۲۳۸=۲۳۹ قوماندان خال ضابط او قوماندان اولیاګل د ۱۲ میاشتې په ۲۷ تاریخ دفاریاب شیرین تکاب په جوکلدي سیمه کي ووژل شول

۲۴۰ قوماندان سخي د ۱۲ میاشتې په ۲۸ تاریخ د ګرشک به کرکز کي ووژل شو

۲۴۱ سرګروپ لنډو دغورک دولسوال وورور د ۱۲ میاشتې په ۲۷ تاریخ دغورک په مرکز کي سره له ۶ عسکرو ووژل شو

۲۴۲ قوماندان صالح د ۱۲ میاشتې په ۲۹ تاریخ دروزګان په مرکز ترینکوټ پای ناوې په شنه کلا کي ووژل شو

قاري محمدیوسف احمدي داسلامي امارت وباند 2013/12/31م ۱۴۳۵/۲/۲۸ هق- ۱۳۹۲/۱۰/۱۰هش

په اسلام کې

مفتي ابوياسر

دمسنونو اعمالو مقام

لمړی دستو پیژندنه

سنت د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ، او صحابه طریقی ته وېل کیږي ، یاسنت هغه عمل ده چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم یې په کړنه ټینګار کړی وي :

سنت په دوه ډوله دي:

۱ سنت مؤکده : چې سنن الهدی هم ورته ویل کیږي

۲ سنت غیر مؤکده : چې سنن زواید هم ورته ویل کیږي

سنت مؤکده : هغه دي چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم اوصحابه رضی الله تعالی عنهم تل کړي وي ،یاهغه سنت چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم یې دکړو تاکید کړی وي ، اوبې دعذر څخه یې نه وي پریښې ، یاهم هغه سنن دي چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم یاصحابه وو دعبادت په ډول اداکړي وي . [دسنت دغه دري واړه تعریفونه علماو ذکر کړی دی]

سنت مؤکده : په حکم اوعمل کې دواجبو په شان دي ، یعني بې عذره یې په ترک سره ګنهګاریږي او همیشه ترک کونکی یې فاسق بلل کیږي اودپیغمبر صلی الله علیه وسلم له شفاعت څخه به محروم وي ، لکه په شامي کې چې دي: والسنة نوعان سنة الهدی وترکها یوجب اساءة وکراهیة کالجماعة والاذان ونحوها .

دسنت مؤکده اقسام

دغه مؤکده سنت بیا په دوه ډوله دي ۱ سنة عین ۲ سنة کفایة

سنت عین: هغه سنت دي چې اداکول یې په هرمکلف باندي سنة وي لکه د لمانځه سنتونه یا لکه دماسپښین دلمانځه سنت ، تراویح اوداسي نور ...

سنت کفایه: هغه سنن دي چې په هرمکلف يې ادا کول ضروري نه وي چې ځيني مکلفين يې اداکړي نو ربې په ترک نه ګنهګاريږي ، اوکه يې ټول پريږدي نوبيا ټول ګنهګاريږي لکه په جماعت سره د تراويحو لمونځ ،

په شامي کې چې دي : ان السنة قد تكون سنة عين وسنة كفاية ومثاله ماقالوا في صلوة التراويح انها سنة عين وصلاتها بجماعة في كل محلة سنة كفاية.

اوسنتغیرمؤکده: هغه سنن دي چې له پيغمبرصلى الله عليه وسلم څخه دعادت په ډول صادر شوي وي ، ياهغه اعمال چې تل يې نه وي کړي ، هغه لکه د پيغمبرصلى الله عليه وسلم طريقه په خوراک څښاک لباس او ځملاستلو کې . دغه سنت په پريښولو کې د کراهية تنزيهي حکم لري .

دسنتو په لاس د پيغمبرصلى الله عليه وسلم سره يوځای کيدل

ددي دواړه ډولو سنتو په هکله د پيغمبرصلى الله عليه وسلم ارشاد :

عن انس رضى الله تعالى عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من احب سنتي فقد احبني ومن احبني فكان معى في الجنة رواه الترمذي . مشکوة ۳۰

ژباړه : انس رضى الله وايي چې پيغمبرصلى الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چې زما دسنتو سره مينه لري ، نو هغه له ماسره مينه لري ، اوڅوک چې له ماسره مينه لري ، نو هغه به له ماسره په جنت کې يوځای وي .

حاصل داچې دسنتو سره مينه نه يواځې داچې دجنت ددخول سبب ده بلکه د پيغمبرصلى الله عليه وسلم سره درفاقت ستر نعمت هم وربانديې لاس ته راوړل کيږي .

دیوه سنت په سرته رسولو دسلو شهیدانو اجر

په بل حديث کې راغلي عن ابي هريرة رضى الله تعالى عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من تمسک بسنتي عند فساد امتي فله اجر مأة شهيد . مشکوة ۳۰ څوک چې په يوسنت دامت دفساد په مهال عملي کړي نو ده ته به دسلو شهيدانو اجر ورکول کيږي .

حضرت شاه محمد اسحق رح ليکلي چې دغه کس په يوه سنت عمل کوي الله تعالى دسلو شهيدانو درجه ورکوي دا له دي امله چې دغه تن دفساد اوفتنو په وقت کې چې کله په

سنت هرځل عمل کوي نوله يوه ستر ازمويښت سره مخ وي دفساقو اونورو بي دينه خلکو له املهٔ پيغورونه اواستهزاوي تيره وي ، شهيد خو ددين داحيا اوسرلوړي لپاره په خپل ځان باندي يو تکليف تير کړ اودغه تن هميشه دغه تکليف تيره وي ،

دسنتو په رعايت ځلورستر انعامونه

من حفظ سنتي اکرمه الله تعالى باربع خصال المحبة في قلوب البررة ، والهيبة في قلوب الفجرة ، والسعة في الرزق ، والثقة في الدين . شرح شرعة الاسلام ص\ ٨

امام مالک رحمه الله څخه نقل شوي :ان السنة مثل سفينة نوح من ركبها نجى ومن تخلف عنها غرق . فتاوى رحيمية ١٠\ ٣٨٩

ژباړه: چاچي دپيغمبرصلى الله عليه وسلم دسنتو احترام وکړ نولوی خدای به يې په ځلورو نعمتونو ونازوي ، ١ - دنيکو اوښوخلقو په زړونو کي به محبوب وي ، ٢ - دبدو اوفاجرانو په زړونوکي به يې هيبت اوويره وي ، ٣ - رزق اوروزي به يې پراخه شي ۴ - اوپه دين کي به محکم وي [يعني خاتمه به يې په ايمان وي]

سنت هسي مه ګڼئ

من تهاون بالاداب عوقب بحرمان السنة ومن تهاون بالسنة عوقب بحرمان الفرايض ومن تهاون بالفرايض عوقب بحرمان المعرفة . تفسير عزيزي ۴۳۲ تحت اية وضربة عليهم الذلة الخ

ژباړه : څوک چي دمستحبو او آدابو رعايت نه کوي نو له سنتو څخه دمحرومي په عذاب به اخته شي ، اوڅوک چي دسنتورعايت نه ساتي نو دفرضوڅخه دمحرومي په عقاب به اخته شي ، اوڅوک چي دفرضو رعايت نه ساتي نو دلوی خدای دمعرفت اوايمان دمحرومتيا په عذاب به اخته شي .

حاصل داچي که يوتن دمستحباتو عمل پريږدي نو بيا دسنتو دتوفيق څخه هم محرومېږي اوچي سنت پريږدي نو دفرضو دتوفيق څخه محرومېږي اوچي فرض پريږدي نو دايمان له دولت څخه محرومېږي اوهغه دبشريت دطبعي او خلقي تقاضا څخه محروميت ده.

جنګي جنایتونه

(ډسمبر میاشت)

سید سعید

د تېر(۲۰۱۳ز)کال د ډسمبر د میاشتي په ۳مه نیټه د کابل ولایت د سروبي ولسوالي د اوزبین سپیر کنډي په کلي باندي یرغلګرو اوداخلي عسکرو چاپه وهلې ، دچاپې پرمهال یې دکلي ملاامام(مولوي حیات الله)شهید کړی اویوبل تن ولسي وګړی یې ژوبل کړی چې وروسته هغه هم دژورو ټپونو له امله شهید شوی دی.

د ډسمبر په ۳مه د جوزجان ولایت دمرکزاړوند(حسن تابن اوشکرک) سیمه کې د دوستم ملېشو پنځه ویشت تنه ولسي وګړي نیولي اودبندیانو په توګه یې له سیمې څخه انتقال کړي ، د ځایې خلګو په ویناد وستمي ملېشو همداپنځه ویشت تنه ولسي وګړي دخپل وژل شوي قوماندان دوژني په توربندیان کړي ، خواصل خبره داده چې دقوماندان په وژنه کې نیول شوي کسان هیڅ لاس نه لري ،حتی ملېشې هم پوهیږي چې همدغه خلګ یې دقوماندان په وژنه کې بنکېل نه دي مګر دځه پیسو ترلاسه کولو په خاطر یې همداغریب خلګ په بندکې اچولي دي.

د ډسمبر په ۵مه دهلمند ولایت د مارجې ولسوالي د سستاني په سیمه کې یرغلګرو ځواکونو دچاپې پروخت دوه تنه ملکي وګړي دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

دډسمبرپه ۲مه دهلمند ولایت د موسی کلا ولسوالۍ دیتیمچي کاریز په سیمه کي ځایې اربکیانو وروسته له هغه چي قوماندان یې (منصور) دطالبانو په برید کي ووژل شوې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان کړي دي.

دډسمبرپه ۱۰مه د کاپیسا ولایت دالـه سای ولسوالۍ په صادقانو کلي کي دیرغلګروځواکونو په بمبارکي اته تنه ملکي هیوادوالو ته مرګ ژوبله اوښتې ده ، عیني شاهدانو رسنیو ته ویلي چي: په دغه بمبارکي چي دنقشبندي په نوم یو کلیوال پرکوروشو ،دکورځښتن (نقشبندي) اودرې تنې ښځي پکي شهیداني شوي اوددرو میرمنو په ګډون یوماشوم پکي ټپي شوی دی .

دډسمبرپه ۱۲مه دزابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ کي داخلي عسکرو دعملیاتو پرمهال ولسي خلګ تهدید کړي او ډیرمالي زیانونه یې ورته رسولي دي

دډسمبرپه ۱۳مه دزابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ دمرغابي له سیمي څخه داخلي عسکرو دمسجد دملاامام په ګډون درې تنه کلیوال چي یو یې ډاکټردی د بندیان په توګه له ځان سره وړي دي. کړي دي. همدارازپه دغه یرغل کي عسکرو دولسي خلګو زیات شمېرموټرسایکلونه بیولي اوځیني یې سوځولي هم دي.

دډسمبرپه ۱۳مه اربکیانو د پکتیکا ولایت په جاني خیل ولسوالۍ کي په یوملکي موټر ډزي کړي، یوسړی اودوه کوچنیان یې ټپیان کړي دي.

دډسمبرد۱۴مي نیټې په ماښام اشغالګرو عسکرو دشپنیو عملیاتو په لړکي د بغلان ولایت د بغلان ولسوالۍ په انارخېلو اوورځېرمه سیموکي دولسي خلګو پرکورونو چاپې وهلې ، دچاپو پروخت یې خلګو ته زیات مالي تاوانونه رسولي اوپه اخرکي یې اووه تنه ملکي هیوادوال دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

دډسمبرپه ۱۴مه نیواکګروځواکونو دشپنیو عملیاتو په لړکي دهلمند ولایت د نوزادولسوالۍ : دبرنوزاد کاریز په سیمه کي دچاپې پرمهال دولس تنه ولسي هیوادوال ژوبل کړي ، یوتن یې بندي کړی اوډیرزیات مالي زیانونه یې خلګو ته اړولي دي.

دډسمبرپه ۱۴مه دزابل ولایت دشینکۍ ولسوالۍ په شینکۍ کلي اربکیانو یو کلیوال دمسجد مخته شهید کړی دی.

د۲سمبرپه ۱۵مه نیټه د ننګرهار ولایت د لالپورې په سیمه کې د کابل سیند په منځ کې د نیواکګرو بې پیلوټه الوتکې پریوې وړې کشتۍ باندې برید کړی ، په یاده شوې حمله کې پنځه تنه ملکي هیوادال شهیدان شوي اویونامعلوم شمېرژوبل شوي دي.

د۲سمبرپه ۱۵مه د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ په احمد شاه کلا سیمه باندې یرغلګروځواکونودهاوان مرمۍ اورولي، داشغالګروپه دغه هوایې برید کې چې یوه مرمۍ یې دخلګو داستوګنې پرځای لګېدلې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي اواووه کسه ټپیان شوي دي.

د۲سمبرپه ۱۵مه اربکیانو د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په حبیب کوډلو سیمه کې دمنارکلي یوملکي وګړی (عبدالسلام دتاج محمدزوی)شهید کړی دی.

د۲سمبرپه ۱۲مه یرغلګرواودخلې عسکرودشپنیوعملیاتوپه لړکې دفراه ولایت د پشترود ولسوالۍ دخلیفه کاریز په سیمه کې چاپه وهلې، دخلګوکورنه یې تلاشي کړې اودرې تنه ولسي وګړي (پلار،زوی اویوتن ملیمه)یې بندیان کړي دي.

د۲سمبرپه ۱۷مه د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په دره اومورہ سیموکې کورنیوعسکرودا ستوګنې پرسیمودهاوان پیرونه کړي چې له املې یې یوه ښځه اودرې ماشومان شهیدان شوي اویوسړی اوپنځه کوچنیان ژوبل شوي دي.

د۲سمبرپه ۱۸مه دکندهارولایت دسپین بولدک ولسوالۍ په یاروکاریزسیمه کې کورنیوعسکرویوملکي وګړی په دې تورچې ماین یې ښخ کړی بندي کړی ، عسکروورسته همدغه بندي پرماین درولی او ماین ته یې انفجارورکړی چې نوموړی بندي پکې شهید شوی دی.

د۲سمبرپه ۲۰مه د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ په مملي باغ سیمه کې سرحدي پولیسو دملکي خلګودسپرلۍ پرموټرډزې کړې چې له کبله یې یوه ښځه اودوه نارینه ټپیان شوي دي.

د۲سمبرپه ۲۲مه داروزګان ولایت د خاص اروزګان ولسوالۍ په شالي ناوې کې اربکیانویولیونې چې دژمي په سړه هواکې به یې په دښتونواوغرونوکې شپې تېرولې په دې پلمه چې ګواکې طالبانوته جاسوسي کوي شهید کړی دی.

د۲سمبرپه ۲۲مه ددهرات ولایت د ګلران ولسوالۍ په سیاخاوال سیمه کې داخلي عسکرودوه تنه ولسي وګړي ژوبل کړي اوځلورکسه نورپې چې یوپکې ډاکټردی بندیان کړي دي.

د۲سمبرپه ۲۷مه دپروان ولایت د سیاه ګرد ولسوالۍ څخه ځایې اوسیدونکورسنیوته ویلي چې دولسوالۍ په بازارکې داربکیانودقوماندان(ملا)له وژل کیدووروسته دنوموړي وسله والودولسي خلګوپه ځورولولاس پوري کړی ، خلګ تهدیدوي، دکورونوپرلوري موډزي کوي ، یوکلیوال موپه همدې ډزوکې ژوبل شواوتردې مهاله یې زیات مالي زیانونه هم راته رسولي دي .

د۲سمبرپه ۳۰مه دکاپیساولایت دتګاب ولسوالۍ په شمشادبیس سیمه کې داخلي عسکرویوماشوم چې کتابونه یې په لاس کې ووشهید کړی ، خلګودکورنیوعسکرودډغه عمل په عکس العمل کې داحتجاج په دودرسنیوته ویلي چې: دې ظالمانوزموږیوماشوم شهیدکړ،موږډیرترې تنګ شوي یو ، خپلوپټیو ته نشوتلای، رمې نشوځرولای، په یوه اوبله پلمه موځوروي اوکړوي.

د۲سمبرپه ۳۰مه دارزګان ولایت ددهراودولسوالۍ دکښته لوندیانوپه سیمه کې داخلي عسکرویولسي وګړی چې پرموټرسایکل یوه زنانه هم ورسره وه دطالبانوسره دارتباط په توردواړه بندیان کړي دي.

د۲سمبرپه ۳۱مه د سمنګان ولایت په مرکزکې دوالي ساتونکووسله والوترلس تنه ډیر مظاهره کونکي شهیدان کړي او تپیان کړي دي، دسمنګان والي خیرالله اودولایتي شورى رئیس احمدضیاءهم منلې چې عسکرویې درې تنه لاریون کونکي شهیدان کړي اولس کسه یې ژوبل کړي دي.

مأخذونه:[بي بي سي راډیو ،ازادي- ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،روهي ویبپاڼه ،لراوبر- ،نن ټکی اسیا-اوبینوا-]

دروغگو را حافظه نباشد

(محمود احمد نوید)

از قدیم گفته اند : دروغگو را حافظه نباشد : این جمله بیشتر برای افرادی مصداق پیدا می کند که به دروغگویی شهرت دارند : مثلا در گفتار ادعایی می کنند و سپس در کردار و رفتار بر خلاف دعوای شان عمل می نمایند : چون فراموش کرده که قبلش چی گفته اند : امروزه یکی از بارزترین مصادیق این ضرب المثل شیرین زبان دری : دولت دروغگوی آمریکاست که از بدو تجاوز نابرابرش علیه ملت مظلوم افغانستان به دروغ گویی های متعدد پرداخته و در طول سالهای اشغال ، با تقلب و ریاکاری ، در رنگ های مختلف و لحن های متفاوت ، جنگ علیه بشریت مظلوم در افغانستان را توجیه نموده و با وقاحت تمام به دنبال کتمان شکست خویش برآمده است : اما که خوشبختانه همیشه دروغگو از آب در آمده و در پیش چشم جهان و مردم دنیا رسوا و روسیاه گردیده است .

مبارزه علیه تروریزم بین المللی ، دفاع از حریم و امنیت آمریکا ، رسیدگی به حقوق بشر ، آوردن دموکراسی و - به اصطلاح - نظام آزادی ، ساختن افغانستان و آوردن آبادی ، مبارزه با مواد مخدّر و ... شعارهای جذاب و فریبنده روزهای نخست تجاوز و قشون کشی آمریکا به افغانستان و خاورمیانه بود که به مرور زمان و طی مدت بیش از دوازده سال ، بطور تدریجی رنگ باختند و دنیا آگاه شد که همه این شعارهای ظاهرا زیبا و جذاب از سوی آمریکایی ها ، برای فریب افکار عامه به شکل ابزاری استفاده شده و دولتمردان خودخواه ، مستبد و کج اندیش آمریکا بنابر سیاست های استعماری در طی این مدت جز دروغ و دغل دیگر کاری ننموده اند و همه پلان های شوم و ترفندهای شیطانی سیاستمداران غرب ، علیه نابودی خاورمیانه و جهان اسلام بوده و آنها مقاصد شومی را در اذهان پَست شان ، پست زمینه نموده بودند که اگر شرایط وفق مرام شان به پیش رفت بتوانند سر فرصت به همه خواسته های شوم خود نایل آیند !

آمریکا آنقدر دروغ گفت که همه از آن کشور ، قطع امید و سلب اعتماد و اعتبار نمودند : حتی که عموم ملت آمریکا با سیاست های جنگ افروزی و ادامه اشغال سرزمین اسلامی افغانستان بشدت مخالفت کرده و بارها از دولتمردان آن کشور خواستند که به جنگ بی سود و سراسر شر خود در افغانستان هرچه عاجل پایان دهد و بجای تمرکز غلط بر سیاست خارجه ، متوجه بحران های جدی داخل کشور بشود : اما دولت آمریکا جز دروغ و دورنگی در مقابل خواسته ملت آمریکا جوابی دیگر نداده است : شرکای بین المللی آمریکا نیز دیگر آن اعتماد سابق را به آمریکا ندارند : چون مخصوصا پس از افشاء شدن ماجرای شنود مکالمات تیلفونی سران غرب توسط دستگاهای استخباراتی آمریکا در اواخر سال 2013 م ، (که موجی از رسوایی ها برای آمریکا ببار آورد) اکثریت ، آمریکا را به چشم دشمن دیده و در تعامل با آن ، جانب احتیاط را لحاظ کرده و بجای احساس امنیت از سوی آن کشور ، بیشتر احساس ترس و نا امنی می کنند : آنها در جنگ افغانستان به این حقیقت تلخ رسیده اند که چگونه قربانی اهداف سلطه جویانه و استعمار گرانه امریکایی ها شده اند و چه ناباورمندانه از آنها در اشغال افغانستان (که در مسیر هوسرانی های آمریکا انجام شده) استفاده ابزاری صورت گرفته است .

آمریکا تا جایی دروغ گفت که حتی دولت دست نشانده کابل هم ظاهرا از دروغگویی های بی شمار آن خسته شد و بالاخره تصمیم به پُشت کردن گرفت : اکنون کار بجای رسیده که کرزی نیز به آمریکا جواب سر به هواء می دهد : چون ظاهرا درک نموده است که آمریکا جز دروغ و تقلب ، تزویر و ترفند دیگر سیاستی ندارد و بر بنیاد همین راهای غلط ، منافعش را جستجو می کند : و تا جایی که بتواند از همه چیز استفده موقتی و ابزاری نموده و هرگاهی احساس کند نیازی به عوامل اجیرش ندارد آنها (اجیران فرومایه اش) را در لیست مهره های سوخته خود اضافه کرده و به آسانی دور می اندازد : یکی از روشن ترین مصادیق دروغگویی آمریکایی ها ، سخنان تهدید آمیز آنها راجع به امضای پیمان ننگین به اسم امنیتی با حکومت دست نشانده اش در کابل پس از موافقه خاینانه جرگه شوم بود که گفته بود اگر تا ختم 2013 م آن پیمان ، از سوی کرزی امضاء نگردد آمریکا به احتمال قوی گزینه صفر را در افغانستان به اجراء خواهد گذاشت : اما دیده می شود در حالیکه آن مهلت نیز به پایان رسیده و 2014 م هم داخل شد و کرزی نیز در پاسخ آمریکا با امضاء نکردنش "نه" گفته است : ولی باز هم آمریکا همچنان از حقیقت گفته هایش طفره رفته و دنبال وقت کشی است : این نمونه ی از دروغ های کلان و دوامدار آمریکاست و اینکه چه بی حافظه دروغ می گوید : غافل از آنکه حافظه تاریخ همه چیز را به شکل اتوماتیک تسجیل می کند !

د مورچل وړمې

د سکروټو جامې

طالب جان

زمـــوږ ژونـــد د انتظـــار څپـــو اخیســـتی
انتظـــار لکـــه انګـــار څپـــو اخیســـتی

ګـــلاب ســـرې وینـــې پـــه حســـن بانـــدې ځـــاځې
پـــه اغزیـــو بانـــدې بـــار څپـــو اخیســـتی

ایمـــانونو څـــومره ګـــرم بـــازار ونیـــو
خدایـــه خیـــر کـــړې دغـــه ښـــار څپـــو اخیســـتی

زمـــوږ حســـن دســـکروټو جـــامې وکـــړې
راســـره دي کـــه پـــه شـــمار څپـــو اخیســـتی*

اوبـــازانو! ګودرونـــه ورتـــه نیســـئ
دپـــرون دغـــارې هـــار څپـــو اخیســـتی

دمـــریخ پـــه څیـــر مـــو ډیـــر دي تـــر شاپریښـــي
بیـــا مـــو عشـــق پـــه داســـې لار څپـــو اخیســـتی

انقـــلاب ښـــکاري غـــوتې دامیـــد راوړي
طالـــب جانـــه اســـتکبار څپـــو اخیســـتی

د مینې پیغام

م عرفان الله عرفاني

تـــه مقتـــدا تـــه مـــو امـــام دمینـــې
جانانـــه زه دې یـــم غـــلام دمینـــې

ښـــکلا ښـــکلا دې کـــړه بـــد رنګـــه دنیـــا
څکـــه دې کړمـــه احتـــرام دمینـــې

مـــین پـــه تـــا دي ټـــول عـــرب او عجـــم
وایـــي پـــه تـــا درود ســـلام دمینـــې

دا تـــوئ زړه بـــه مـــې ســـپراب شـــي هلـــه
کـــه تـــه پـــرې وخښـــې یـــو ډک جـــام دمینـــې

دأحـــد غـــره در ســـره مینـــه کـــړې
تـــا چـــې پـــرې ایښـــې وه خپـــل ګـــام دمینـــې

رب یـــې ســـتایلئ پـــه طـــه او یســـن
څـــومره اعلـــی لـــرې مقـــام دمینـــې

تـــورې تیـــارې شـــوې پـــه رنـــا بـــدلې
کلـــه چـــې راوړ تـــا پیغـــام دمینـــې

تـــه مـــو ددیـــن او د دنیـــا لار ښـــودې
څـــومره مـــو ښـــکلئ دی اســـلام دمینـــې

چـــې شـــفاعت کـــړې دمحشـــر پرمیـــدان
پـــه (عرفـــاني) بـــه کـــړې لـــږ پـــام دمینـــې

اربکیانو

حافظ محمدقاسم زهیب

له دښمنه راجلا شئ اربکیانو!
هلئ هلئ راشئ راشئ اربکیانو!

داوحشت دغه ظلمونه ګټه نه کړي
خپل ولس سره پخلا شئ اربکیانو!

د دښمن د څو ډالرو تمه مه کړئ
د خپل دین په تمنا شئ اربکیانو!

په دفاع د دین وطن ناموس عزت کې
د غازي لالي تر شا شئ اربکیانو!

داپولیس دي که خادیان دي که ملیان دي
ټول په دې سره سلا شئ اربکیانو!

له دې کړو جنیاتو توبه ګار شئ
خپل خالق ته په ژړا شئ اربکیانو!

ټوکي نه دي دایمان ستره مسله ده
ایمانداره په رښتیا شئ اربکیانو!

د شیطان په طاغوتي لښکر کي مه ځئ
لاړ په لاره دالله شئ اربکیانو!

د میرویس او احمدشاه توره راواخلئ
ننګیالي داریانا شئ اربکیانو!

د زهیب ټولي خبري عملي کړئ
چې خوشحاله په عقبا شئ اربکیانو!

آزادۍ

صفیه/صفا/زابل

انتظار او امیدونه مرور شول
ستا د وصل ټول خیالونه مرور شول

زما د اښکو په باران زرغونه نه شوې
نور د اښکو بارانونه مرور شول

ارزش خون شهید

حسن مبشر

کاخ خلقت را بنا خشت تجلای شهید
دفتر هستی کند تکمیل امضای شهید

باز امشب در سر پر شور من شور نوی
بر سر پا میکند هر لحظه نجوای شهید

گل اگر صد رنگ و بو دارد، زخاکش برمدار
تا نشوید روی خود از خون رگ‌های شهید

لاله از خون شهیدان نیست ، بلکه خاک خشک
خون دل از دیدگان پاشیده بر پای شهید

نیستان دهر سر بر دارد از دریای خون
ناله خونین چو بی میخیزد از نای شهید

مقصد مقتول جام باده فردوس نیست
بلکه «فردوسی» است مست جام صهبای شهید

آرزو دارم شهادت را که بعد مرگ من
مردمم گویند شعرت شاد یغمای شهید

بس یو ته مي د زخمي زړګي درمل یي
بې له تا نور درمانونه مرور شول

یو زه نه یم هر څه ستا په طلب ګرزي
بورا ژاړي بهارونه مرور شول

د بلبلو د نغمو ژبې ګونګۍ شوې
ها د زانو کتارونه مرور شول

آزادۍ لکه سپوږمۍ له بره راشه
ستوري تت دي اسمانونه مرور شول

د (صفاء) په دې خبرو یقین وکړه
ګودر ړنګ دی چنارونه مرور شول

په ۲۰۱۳ کال کي دکابل اداري په زرګونه منسوبین داسلامي امارت سره یوځای شوي دي

دعوت او ارشاد کمیسیون کلنی راپور

میوند سادات

دافغانستان اسلامي امارت دګران هیواد څخه دوحشي یرغلګرود شړلو او داسلامي او ملي نظام درامنځته کولو په موخه دران سپېڅلی مقاومت په لړکي دنظامي فعالیت ترڅنګ سیاسي ،فرهنګي ،تعلیمي او دعوتي هڅي هم ګړندۍ کړي دي. داسلامي امارت غښتلو مجاهدینو دپراخوپوځي ،سیاسي او فرهنګي لاسته راوړنو څخه علاوه په دعوتي ډګرکي هم ډیري بریاوي ترلاسه کړي ،هره میاشت دهیواد په بیلابیلو ولایتونو او ولسوالیو کي ددعوت او ارشاد کمیسیون په هڅو دکابل اداري څخه په سلهاوو تنه کارمندان راوزي او داسلامي امارت غیږي ته پناراوړي.

دافغانستان اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله داخترونو په پیغامونو کي دکابل اداري سره په کاربوختو افغانانو باندي په وارواړږغ کړی چي نوردیرغلګرود ملاتړ او دهغوی د ګوډاګي رژیم څخه دخپل ولس وغیږي ته پناراوړئ، ویښو او بااحساسه هیوادوالو دامیرالمؤمنین غوښتني ته لبیک ووایه، خپلي دندي یې پرېښودې ،ځیني په خپلو شخصي کاروباربوخت شول او ځینو یې داسلامي امارت سره داسلام او هیواد څخه ددفاع په سنګرونو کي جهاد پیل کړ.

په تېرکال کي چي دکابل دبلواکي اداري څخه کوموکسانو دولس وغیږي ته ځان سپارلی اجمالي یادونه یې په لاندي ډول دلوستونکو مخي ته تقدیموو

دتېر (۲۰۱۳م)کال په اوږدوکي داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد ،جلب او جذب کمیسیون په هڅو او دځایي مجاهدینو په ملاتړ دافغانستان په ختیځ اولویدیځ، شمال او جنوب کي په زرهاوو بااحساسه هیوادوال دحقایقو په درک کولو دیرغلګرو له ملاتړه او دهغوی دلاسپوڅي رژیم سره دکارکولو څخه لاس اخیستی او داسلامي امارت سره یوځای شوي دي.

دتبر(۲۰۱۳ز.)کال دجنوري د میاشتي په بیلا بیلو ورځو کي دکرزي دشورپدلي رژیم داردو، پولیسو، اواربکیانوله لیکو څخه ۱۵۴تنه بادرده هیوادوال ددغه ګوډاګي رژیم څخه بیزاره اوداسلامي امارت سره یوځای شوي دي.

په فبروري کي ۵۳۹تنه دکابل اداري دمختلفوارګانونومنسوبین داسلامي امارت دمجاهدینوسره ملګري شوي دي.

دمارچ په بیلا بیلوورځو کي ۴۸۴تنه بااحساسه عسکرداسلامي امارت داتلومجاهدینوته تسلیم شوي دي.

داپریل په میاشت کي ۳۸۲تنه هیوادوال داردو، پولیسو اواربکیانوله لیکو څخه راجلااوداسلامي امارت مجاهدینوته يې پناراوړپده.

دمئ په مختلفونیټودکرزي دبلواک رژیم څخه ۵۲۲تنه کارمندان راووتلي اودجهادمورچلونوته يې ځانونه رسولي دي.

په جون کي ۵۴۵تنه بااحساسه هیوادوال دکابل اداري څخه بیزاره اوداسلامي امارت سره یوځای شوي دي.

جولايې کي ۴۷۹تنه عسکردقهرمانومجاهدینوسره ملګري شوي دي.

داګست په میاشت کي۷۷۷تنه وینې وطنوال چي دکرزي اجیري اداري سره يې کارکاوه داسلامي امارت سره یوځای شوي دي.

په سپتمبرکي ۸۷۸تنه بااحساسه هیوادوال چي دکرزي داجیررژیم سره يې دندي درلودې ،خپلي وظیفې پرېښودې اوداسلامي امارت سره يې خپل پیوستون اعلان کړ.

اکتوبرکي ۵۰۵تنه دکابل اداري کارکونکي دمجاهدینوسره یوځای شوي دي.

نومبرکي ۵۹۲تنه پوځیان ،پولیس اواربکیان دمجاهدینوسره ملګري شوي دي.

همدارازدتبرکال په وروستۍ میاشت(دسمبر)کي ۲۷۲تنه پوځیان ،پولیس اواربکیان دکرزي دګوډاګي اداري څخه رابیل شوي اوداسلامي امارت دمجاهدینوسره یوځای شوي دي

په تېر(۲۰۱۳ز)کال کې شپږزره یوسل ونولس(۲۱۱۹)تنه بااحساسه هیوادوال چې دنیواکګروځواکونوسره یې په یواوبل ډول کارکاوه اوهمدارازدکرزي په ګوډاګي اوفاسدرژیم کې یې دندي درلودې ،پرخپل دغه عمل پښېمانه شول او داسلامي امارت سره یوځای شوي دي.

داسلامي امارت سره یوځای شوو هیوادوالو مختلفه النوع لویې اووړې وسلې ،وسایل ،مخابرې ،وسایط اویوزیات شمېرمهمات مجاهدینوته سپارلي دي .

دکابل دمنفوررژیم څخه راجلاشووهیوادوالوداسلامي امارت له مسؤلینوسره ژمنه وکړه چې نوربه دخپل ددین اووطن دخارجي اوداخلي مزدورانوسره هیڅ رازتعلق نه ساتي ،دخپل مظلوم ولس اومجاهدینوورونوسره به همکاري کوي ،ترڅولوی خدای جل جلاله ژرترژره زمونږله ویاړلې خاوري څخه دکفر،فسق ،،اشغال ،فحشاءاوګمراهیوکرغیړن تغرتول کړي اودمسلمانانودخوښي یوسوچه اسلامي واکمني رامنځته کړي چې دټول افغانان پرې راټول شي.

داسلامي امارت مسؤلینو بالخصوص ددعوت ،ارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون مشرتابه دوی ته هرکلی ووایه ،انعامونه اوجایزې یې ورکړې اوددوی همدانیک اقدام یې ډیروستایه چې دیرغلګروالاسپوڅي رژیم څخه یې راووتل اودافغانستان اسلامي امارت دمجاهدینوسره یې خپل پیوستون اعلان کړ.

که څه هم یرغلګرو ،دکابل اداري اوکرایه کړي میډیایې دنوروکلونوپه شان په تېرکال کې هم ډیر ښکروردرواغ وویل خونه یوازي داچې دوی ته یې څه ګټه ونه کړه بلکې لاډیریې نړیوال اوافغانان په ځان پورې وخندول.

دکابل اداري څخه په یوه کال کې ددومره لوی شمېر(۲۱۱۹) پوځي اوملکي چارودکارمندانوراببلیده ببله شکه په دغه رژیم باندي یوسترګوزاردی، داسي ګوزارچې هیڅ ډول یې نشي جبیره کولای، ځکه همدامنفوررژیم له یوې خواداخلي چاودون سره مخ دی اوله بلې خواداسلامي امارت دهرارخیزوفعالیتونواوداتلومجاهدینودموثروبریدونوسره.

دوحشتونو کیسې

زابل ته تللې پلاوي څه واورېدل ؟

دروان ۲۰۱۳ میلادي کال د ۱۰ میاشتې په ۲۴ تاریخ دخارجي او اربکي جنایتکارانو له خوا دزابل ولایت دمرکز مربوط سرخوګان، سورکي تنګي، ډوری، لودین، پاتوزي، کښته او پورته هوتک، ملایان، نوابادکلیو باندي ددوئ دوحشت وروستنی راپور:

ددې لپاره چې دکرزي داداري دخپلسرو لنډغرو اوخارجي حیوان صفتو جنایتکارانو جنایتونه او غیر انساني چلندنور هم خلکو ته رسوا شي داسلامي امارت یو باصلاحیته څلور کسیز هیأت چې دمحترم حاجي ادریس په مشرۍ دکره معلوماتو درا غونډولو په موخه نومورې سیمې ته لیږل شوی وو بیرته را ستون او دا معلومات یې دمورچل لوستونکیو ته له ځانه سره راوړي !چې البته داسانتیا لپاره مو دپوښتنو اوځوابونو په بڼه خپرېدو ته چمتو کړ !

اداره

محترم حاجي صاحب که لومړی ځان را وپېژنې !

ځواب: الحمدلله رب العلمین والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی قائد المجاهدین واصحابه المکرمین وبعد :زمانوم حاجي محمد ادریس دی ، داسلامي امارت یوغړی اودمجاهدینو یوخدمت ګار یم.

پوښتنه : ویل کیږي چې تاسو د څونورو ملګرو سره د زابل ولایت هغو مرکزي سیمو ته تللي یاست، چې څه موده وړاندې خارجي یرغلګرو او دهغوئ ګوډاګیانو درې ورځې مسلسل دنومورې سیمې پر بې دفاع او مظلوم اولس دالوتکو او ټانګونو غوبل جوړ کړی و ، که د دې وحشت په اړه معلومات را کړئ

ځواب: د زابل ولایت چې د امریکایي یرغل نه را پدیخوا یې تر نن پورې د یرغلګرو په خلاف د جهاد سنګر همداسي تود ساتلی ،چې د غه سیمه یې بیا د بل هرځای په نسبت د سوونو مجاهدینو دګشت او ګذر مرکز بللای شو ، که د روسانو د یرغل په وړاندې و ،نو هم همدا سیمه وه، چې په ور ځیرمه سورغر کې یې د مجاهدینو کیمپونه وو ، که اوس ده هم د مجاهدینو د تګ راتګ سیمه بلل کیږي، چې په هرو څو ورځو کې د کابل کندهار پر لویه لاره د وهل شویو کار وانونو غنیمت شوي موټر او اسیران شوي عسکر له دې سیمې نه تیریږي، نو همدا دلیل دی چې کله د هوا او کله د ځمکې له لارې ور باندې د دښمن چاپه (ناڅاپي یرغل) را وړي او اولسي وګړي یې ځوروي ، چې د تیر په ځیر یې دا ځل هم د خپلو وژل شویو جنایت کارانو کسات له همدې اولس نه واخیست

پوښتنه : که راته ووایاست چې تاسو کومو سیمو ته ورغلئ او د مو ضوع په اړه مو له چا سره ولیدل ؟

ځواب: مورږ هغو کلیو ته چې پدې ناروا او ظالمانه عملیاتو کې د ردیدلي، شکنجه شوي ،وهل شوي، ویشتل شوي او بندیان شوي وو ، ورغلو ، او د دوئ له خولې نه مو نومورې کره معلومات را ټول کړل ،چې هغه په لاندې ډول دي:

د دښمن لومړی دورځې له پیلیدو سره سم د کشفي لو یو الوتکو ،جیټ او ځو ډو له هلیکوپټر و په مټ فضاء ترخپل کنترول لاندې را وستله، چې د دوو ساعتونو لپاره یې د هوا له لارې دا وحشت جاري ساتلی وو ، تر څو چې ور ته له زابل مرکز کلات نه یو لوی کتار چې تعداد یې لسګونو ټانګونو او موټرو ته رسیده را ورسید ، او د خاد مرستیال جمعه ګل یې مشري کوله ،ټوله سیمه یې چې شاو خوا شل کلیو ته رسیږي، تر خپلې محاصرې لاندې ونیول، چې د خلکو په ترڅ لو ، چور او تالان یې لاس پورې کړ او د خلکو شخصي شتمنۍ یې لوټ کړې، د ملایانو په کلې کې یې د نواب موټروان د کور تلتکان وسوځول ، د کشمشو له ګونیو یې مورچې جوړې

کړې او له کورونو نه يې دحلالو شويو څارويو غوښې يو وړلې، دهر چا چې به نوی پالنګ و، يا به يې په کور کې کوم بل نوی شئ و، هغه به يې ورته ماتوو.

دملايانو له کلي يې دکليوالو ۸موټرسايکل، له پاتوزو يې ۸موټرسايکل، له لودينو يې ۱۳موټرسايکل، له سرخوګان نه يې ۹موټرسايکل، له نواباد او ډوری نه يې يو يو، له سُرکي تنګي نه يې ۷موټرسايکل، له کښته هو تکو نه يې ۹موټرسايکل، او دسر له هو تکو يې ۵موټر سايکل را وايستل او ويې سوځول. چې دا ټول دخلکو شخصي موټر سايکل وو، ځکه داسيمه له بازار نه ليرې ده، او تقريبا دټولو خلکو دتګ راتګ وسيله موټر سايکلان دي.

ددې نه علاوه يې دپاتوزو دکلي دبرات شا زوی سليمان شاه په ډزو شهيد کړ، بيس ته يې يوور او هلته يې دده خيټه وخټرله، د پوسټ مارټم په پلمه يې ورځخه ينه او زړه ايستلي و، او پدې ځيرې او بدحالت کې يې اقرباوو او خپلوانو ته وسپاره، همداسې يې دعبدالرحمان زوی عبدالستار زخمي کړ، چې دکلات په شفاخانه کې تر ډيره وخته بستر و.

نومورې سيمې ته دلو دينو دکلي يو دکاندار سلطانګی دشير محمد زوی له هو تکو نه، هجرت الله دشاولي زوی، طاؤس دحمدالله زوی او دسرکي تنګي صديق الله چې دواده لپاره يې کوتوني را وستي وو، بوتلل او له ملايانو يې عبدالقادر دحاجي عبدالرؤف زوی چې دکور مشر وو او دلوی مسجد ملا امام مولوي امان الله او ملا قاسم دحاجي فيض الحق زوی، دخپل کلي ديو کمکي مسجد ملا امام او ملا محمد رضا دحاجي سيد عبدالله زوی، دلونګ دکلي ملا امام چې له خپلو کورونو نه لمانځه ته تلل او دخپلو ځمکو کار او رزوګار يې هم کاوه، يوورل او له ډوری نه يې يو مشهور ليونی ساعت ملوک وړی، چې داکسان تر ننه پوری دکلات په محبس کې بې له کوم جرم نه ددې ظالمانو په بنديخانو کې تر شکنجو لاندې شپې او ورځې سباکوي، چې کله دسيمې سپين ږيری ورشي، نو دغلامې اداري مامورين ورته وايي چې دا مجرمين دي او نه يې در خوشې کوو...

د اسلام غزوات او سرایا

احد جنګ

نولسمه برخه

ابو ظهیر

احد دمدینې منورې دیوه غره نوم دی، کوم چې له مدینې نه کم وزیات دوه میله لرې پروت دی، ورته احد په دې وجه وایي: چې له نورو غرونو نه "متوحد" یعنې یواځې او جلادی (البدایه والنهایه ۴ټوک ۹مخ)

ابن سعد په طبقات الکبری کې لیکلي: احد جنګ له هجرت ۳۲میاشتې وروسته د شوال میاشتې په ۷مه دشنبې په ورځ شوی (۱ټوک ۲۲۷مخ)

د احد جنګ لامله:

بدر جنګ ته چې قریش د اسلام ماتولو د کوم شوم عزم په بدر کې راغلي وو، ناڅاپه قدرت دهغوی دغه ارزو پوره نکړه، پخپل هوډ کې په پاته راتلو یې ټول پلانونه اوتد بیرونه له خاورو سره خاوري شول، اسلام دمعمول سره سم دخپلې ارتقاء اوپراختیا لرې په غځولو ورځ تر ورځې خپله دایره پراخوله، دمکې کافرانو نه دا کار دزغملو وړ نه و، له دې وجې هم هغه لامله نه چې د بدر جنګ وو، هغو په احد کې هم کاري رول لاره.

د بدر جنګ یو قوي لامل چې د "عمرو بن حضرمي" قتل هم و، اوس دقریشو له ډلې نه اویا تنه وژل شوي وو، ریاټره دهغوی سرداران، مشران اورهبران ول، دې نه په کنو ټول قریش دغچ او انتقام له عوسي ډک وو، اوسفیان دغه مهال دقریشو مشر رهبرو، هغه سوکند وخور، څومې د بدر مقتولانو غچ نه وي احیستی، تر هغه پورې به نه غسل وکړم، نه به په سر پورې تیل کړم، سوکند پوره کولو په موخه هغه د ۲۷۰ سپرو سره یوځای دشپې پټ په مدینه منوره ناڅاپه یرغل وکړ، چې شپه یې له یهودي سردار سلام بن مشکم" سره تیره کړه، سهار لمر راختونه وراندې دمدینې منورې پر مال څرچې له بناره دري میله لرې پروت و، حمله وکړه، هلته یې یو انصاري شهید اوځو کوروبه اوونې وسیرلې، په منډه بیرته له سره ملګرو وتښتیده، په تعقیب یې رسول الله (ﷺ) دصحابه وو سره تر یوځایه ووت، خو په لاس څوک ورنغلل.

بل په قریشو اقتصادي کلاندي دوخت په تیریدو ټکیده، له بدر جنګ وروسته په ساحلي سیمو کې میشت قبایلو هم مسلمانانو سره ترونونه وکړل، په دې سره په قریشو دشام لار وتړل شوه، هغوی دي ته اړ شول چې خپله سوداګري یواځې ترعراق پورې محدوده کړي، خو دعراق لار هم خوندي نه وه، یو وار هغوی دنجد له لارې یوه قافله عراق ته ولیږله، هغه د زید بن حارثه (ﷺ) په مشرۍ لیږل شوې مسلمانانو ونیوه، ټول مالونه یې ترې غنیمت کړل، قریش پوهیدل، که حالت هم داسې دوام وکړي، نو دوی به له اقتصادي پلوه یومحو وړل شي.

څنګ چې ن سبا پروپاګند اوتبلیغ لوی اهمیت لري. له رادیو، نشراتو، ورځپاڼو اومیډیا نه دتبلیغ اوپروپاګند دوسیلو په حیث کار اخستل کېږي ، هغه مهال عربو دپروپاګند اوتبلیغ دوسیلې په توګه له شعروشاعرۍ کار اخیست ، قریشو پروپاګند لپاره، دوه مشهور شاعران "عمروجمحي" او "مسافح" غوره کړل، هغوئ پر تولو قبایلو وګرځیدل، خلکو کې یې دمسلمانانو پر ضد جوش اوولوله پو کړه ، مدینه منوره کې دنه یهودي "کعب بن اشرف" چې له مسلمانانو سره یې دېر ځل اوعناد لاره دمسلمانانو اورسول الله (ﷺ) پرضد په شعرونو کې پروپاګند کاو ، تردې چې هغه په دې هم بسا ونکړه او مکې ته لاړ ، هلته یې پخلو شعرونو کې قریش انتقام اخستو ته وهڅول.

مشرکانو دبدر نه په ستنیدو ، دهغه قافلې مال چې ابوسفیان دساحل په غاړه بیولې وه اوله مسلمانانو یې وژغورله ،توله پانګه یې دارالندوه کې امانت اوخوندې کړې وه،داچې دبدر دستر هزمت اوشکست زخمونه دهر کافر په سینه کې تازه وو ، دکومو خلکو چې په بدر کې پلارونه، وروونه ، وریرونه اوخپلوان وژل شوي وو،دهغوئ ژړه ګانو اوفریادو په خلکو کې نوره هم جذبه پیدا کړه.

ابوسفیان بن حرب ، عبد الله بن ابی ربیعه ، عکرمه بن ابی جهل حارث بن هشام ،صفوان بن امیه حویطب بن عبد العزی اونور سرداران راتول شول اوپریکړه یې وکړه دقافلې کوم مال چې په دارالندوه کې امانت خوندې دی ، دهغه اصلي پانګه دي په شرېکانو وویشل شي اولاسه ته راغلي نفعه (ګټه) دي دمحمد (ﷺ) سره په کیدونکي جنګ ولګول شي ، څوله مسلمانانو نه مونږ دخپلو پلرونو، وروڼو، تروڼو ، اولادونو اوخپلوانو دوژلوغچ واخلو، په غونډه کې تولو ناستو خلکو په یوه غږ ددې رای ملاتړ کړ، په دې سره هغه توله ګټه چې پنځوس زره دیناره وه، دجنګ په چارو اوتیارېو ولګول شوه.دیاویې ورډه چې دقریشو ددې یادو سردارانو خامن ،پلرونه او وروره په بدر کې وژل شوي وو، دابوسفیان خو حنظله، دعکرمه پلار ابوجهل د حارث بن هشام وروره ابوجهل بن هشام ،صفوان بن امیه پلار امیه دمسلمانانو په لاس وژل شوي وو، له دې وجې پرته دخندې یې یادې پریکړه وکړه (زرقاني ۲توک ۲۰مخ سیرة المصطفی ۱توک ۵۲۷مخ)

علامه ابن سعد لیکلي : لومړی دقریشوخونه سرداران ابوسفیان ته لاړل اوور ته ویې ویل :مونږ په خوشالي تیار یو چې د قافلې له درکه کومه نفعه تر لاسه شوي . هغه دمحمد (ﷺ) سره کیدونکي جنګ لپاره جنګي تو کي اووسایل واخلئ. ابوسفیان وویل لومړی سړی زه یم چې دارایه منم اودعبد مناف اولاد هم ما سره ملګري دي (۱توک ۲۲۷مخ)

په دې اړه الله (ﷻ) لاندې ایت نازل کړ:

ان الذین کفروا ینفقون اموالهم لیصدوا عن سبیل الله فسینفقونها ثم تکون علیهم حسرة ثم یغلبون والذین کفروا الی جهنم یحشرون (۳۶) (الانفال ۳۶)

بیشکه کافران خپل مال لګوي. څو خلک دخدای له لارې وګرځوي . پس نور مال به هم ولګوي ، خو داتول به په دوئ حسرت او افسوس وي ، په پای کې به مغلوب هم دوئ وي.

قریشو تولو عربونه استازي واستول له هغوئ یې مرسته اوکومک وغوښت ، څینې ورسره مرستې اوملګرتیا ته، تیار شول، هغوئ پوره مجهز ځانونه حاضر کړل ، قریشو له ځانو سره دمیرمنو په بوتلو هم سلاا و اتفاق وکړ ، څو هغوئ جنګیالیونه دبدر مقتولان یاد کړي او ورته "رجزیه" اشعار ووایي ، په دې تو که ددې زره کسانو لښکر جوړ شو، پکې ۷سوه کسانو په زغرو پوښلي وو ،دوه سوه په اسونو سپاره وو، دې زره اوښان وو اویخلس میرمني وي ، تول دابوسفیان په مشرۍ کې دشوال په ۵مه له مکې روان شول (طبقات ۱توک ۲۲۷مخ زرقانی ۲توک ۲۰مخ)

رسول الله (ﷺ) ته دقریشو له ارادې خبرورکول:

عباس بن عبد المطلب چې دغه مهال په پټه ایمان راوړی و، ژر یې په یولیک کې رسول الله (ﷺ) ته دقریشو داټولې خبرې او ارادې ولیکلې ، رسول الله (ﷺ) له نورو مخکې سعد بن الربیع ته دعباس لیک وښود، یهودانو او منافقانو هم په مدینه منوره کې ډاروونکې خبرونه او افواهات خپرول.

درسول الله (ﷺ) خوب لیدل او صحابه وو سره مشوره:

رسول الله (ﷺ) دخبرو ومعلومولو په موخه سملاسي د "فضاله" ځامن "انس اومونس" (رضي الله عنه) دشوال په ۵مه نیټه دپنجشنبې په ورځ واستول، هغوئ بیرته راغلل اوخبر یې راوړو، چې قریشي لښکر مدینې منورې ته څیرمه "عریض" نومي سیمې ته رسیدلی ، دلښکر دشمیر معلومولو لپاره رسول الله (ﷺ) "الحباب بن المنذر بن الجموح" (رضي الله عنه) ولیږه، "الحباب بن المنذر بن الجموح" (رضي الله عنه) لاړ، آن لښکر ته دننه ننوت، هغه دلښکر دقیق شمیر معلوم کړ، بیا راغی رسول الله (ﷺ) یې د قریشو لښکر له شمیره خبر کړ.

دجمعې په شپه "سعد بن معاذ" اسید بن حضیر اوسعد بن عباده (رضي الله عنهم) وسله په لاسو راغلل، مسجد کې درسول الله (ﷺ) دروازه کې ترسبا په پهره ودریدل، هم داشان دمدینې منورې ښار په ټولو جوانبو ، اطرافو اولارو یې ترسبا پهرداران کینول (رضي الله عنهم) (طبقات ۱ټوک ۲۲۷مخ)

دجمعې په سهار رسول الله (ﷺ) صحابه ځانته وغوښتل ، دانصارو او مهاجرو مشرانو وویل: په مدینه منوره کې به پاته شو او مقابله به وکړو، لیکن هغه ځوانانو چې په بدر کې نه وشریک شوي او دشهادت په جذبه سرشار ول ویل: دمدینې څخه بیرون دې په قریشو حمله وشي.

په همدې شپه کې رسول الله (ﷺ) خوب ولید چې زغره یې په تن کړي، بوغویه ذبح کېږي ،رسول الله (ﷺ) ددې تعبیر دا وکړ، چې دزغرې په څېر مدینه منوره خوندي ده ، او دغویه په ذبح کولو کې اشاره ده چې ځما په صحابه وو کې به ځینې کسان شهیدان شي ، له دې وجې ځما رایه داده چې مدینه کې دننه تم شو او دفاع وکړو، په خوب کې مې داهم ولیدل چې ما توره وښوروله ،دې سره دتورې مخکښې برخه ماته شوه ،بیا مې هغه (توره) دویم وار وښوروله ، له وړاندې نه ډېره ښه جوړه شوه ، ددې تعبیر دادی چې صحابه په منزله دتورې دي ، کومو چې درسول الله (ﷺ) په دښمنانو بریدونه کول ، صحابه جهادته بیول په منزله دتورې ښورولو وو، یو وار یې وښورول یعنې په احد غزوه کې رومبی برخه ماته شوه، یعنې ځینې صحابه شهیدان شول، بیا هم دا توره یې په نورو غزاګانو کې وکاروله ، نو له پخوا نه زیاته تېره شوه او په دښمنانو ښه وچلیده.

درئس المنافقین عبد الله بن ابی بن سلول څخه یې هم دیوه تجربه کار او هوښیار سړي ، په توګه مشوره واخسته ، هغه وویل: تجربو ښودلې چې هر کله هم دښمن په مدینه باندې حمله کړي او دمدینې خلک دننه په ښار کې پاته شوي او ددښمن دتیرې یې مقابله کړی، په پای کې فتحه اوبری دمدینې خلکو ته په برخه شوی او هر کله چې بیرون وتلي ، ناکام راستانه شوي، یا رسول الله (ﷺ) ! ته هم دمدینې څخه بیرون مه وزه ، په خدای سوګند هر کله چې موږ دمدینې څخه بیرون وتلي یو دتکلیفونو اوله ستونزو سره مخ شوي یو، ته دمدینې لارې اوطرافونه وتړه ، که بالفرض دښمن ښار ته ننوتو ،نارینه به یې په تورو مقابله وکړي ، ماشومان اومیرمنې به یې به له بامونو څخه په کانو ولې ، او که له بیرون څخه بیرته ستون شو ، دابیا زمونږ هدف دی (طبري ۳ټوک ۱۱مخ)

خو ځینې اکابرو او ځوانانو په دې ټینګار درلود چې له مدینې بهر دې په دښمن برید وشي، هغوئ ویل: "یا رسول الله (ﷺ) ! مونږ ددغسې ورځې غوښتونکي وو، له خدایه مو په دعاګانو غوښته، خدای هغه ورځ را وستې ، او لار هم لږده "

حضرت حمزه ، سعد بن عباده اونعمان بن مالک عرض وکړ: دالله رسوله! که مونږ په مدینه کې پاته شواوبه مقابله مو بسیا وکړه دښمن ته به مونږ زدلان ښکاره شو.

حضرت حمزه وویل: والذی انزل علیک الکتاب لا اطعم الیوم حتی اجاهدهم بسیفی خارج المدینة (البدایه والنهایه ۳ټوک ۱۲مخ)

سوګند دی په هغه پاک ذات چاچې په تا کتاب نازل کړی دی ، ترهغه پورې به دوډی ونه خورم، خو چې مې نه مدینې بیرون دښمنانو سره په توره جهاد نه وي کړي.

نعمان بن مالک انصاری وویل: یارسول الله لا تحرمنا الجنة فوالذی بعثک بالحق لادخلن الجنة

ژباړه: دالله رسوله! مونږ دجنت نه مه محرومه وه ، سوګند دی په هغه ذات کوم چې ته په حق رالیږلی یې، زه به خامخا جنت ته داخلیږم

رسول الله (ﷺ) ورته وفرمایل په څه؟

نعمان وویل: لأنی اشهد ان لا اله الا الله وانک رسول الله ولا أفرّ یوم الزحف

ژباړه: په دې وجه چې زه ګواهي ورکوم چې دالله پرته هیڅ بل معبود نشته ، اوبیشکه ته دالله (ﷻ) برحق رسول یې، اوزه په جنګ کې هیڅکله تښتیدلی نه یم.

په یوبل روایت کې دا الفاظ راغلي: لأنی أحب الله ورسوله. په دې وجه چې زه دالله اودهغه رسول سره محبت لرم.

رسول الله (ﷺ) ورته وفرمایل: صدقت : تا رښتیا وویل.

بیا رسول الله (ﷺ) خلکوته دجمعې لمونځ وکړ، وینا(خطبه) یې وکړه ، صحابه ووته ته یې دجهاد ترغیب ورکړ. اووې فرمایل: خو تاسې صبر کوئ دخدای مرسته به له تاسو سره وي ، ددښمن دحملې په وړاندې یې تولو ته دځاونو تیارولو حکم وکړ، په دې سره خلک هم خوشال شولاو دمازیګر لمونځ یې ادا کړ

زغره په تن اووسله په لاس راوتل:

دمازیګر لمانځه وروسته رسول الله (ﷺ) خپلې مبارکې حجرې ته ننوت، حضرت ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) هم ورسره حجرې ته ننوتل، دابن سعد په روایت همدوئ دواړو رسول الله (ﷺ) پګړۍ وتړله، هم دواړو ورته زغره ور واغوسته، خلک بهر په صف کې درسول الله (ﷺ) وتلو ته انتظار وو.

په دې څنډ کې سعد بن معاذ اواسید بن حضیر (رضی الله عنهما) خلکوته وویل:

تاسو رسول الله (ﷺ) له ښاره بهر وتلو ته اړ کړ، حال داچې په رسول الله (ﷺ) وحی نازلیږي،ښه داوه چې رسول الله (ﷺ) موخپلې منشاء اوخوښې ته پریښودی وای

په دې کې رسول الله (ﷺ) مسلح له حجرې رابیرون شواو دوه زغرې یې اغوستې وي، صحابه وو (رضي الله عنهم) عرض وکړیا رسول الله! مونږ په ناسمه توګه په تا ریات اصرار وکړ (چې له ښاره بیرون دي پر دښمن حمله وشي) مونږ ددې حق نه لاره، ته چې هره یوه مناسب بولي، هم هغسي وکړه، یعني یواځې پخپله رایه عمل وکړه (طبقات ابن سعد ۱ توک ۲۲۸ مخ، سیرة المصطفی ۵۳۰ مخ)

رسول الله (ﷺ) وفرمایل: دهیڅ پیغمبر لپاره مناسب نه ده چې هغه زغره په تن کړي او بیا یې بیرته وباسي، ترڅو چې الله (ﷻ) دهغه او ددښمن ترمنځ فیصله نه وي کړي، تاسي اوس هغه څه کوئ چې زه تاسو ته دهغه حکم کوم، دالله (ﷻ) په نوم روان شئ، پوشئ ترڅو چې تاسي صابر او ثابت قدم وئ دالله (ﷻ) فتحه اونصرت به تاسي سره مل وي.

څیرنه:

درسول الله (ﷺ) دا وینا چې دهیڅ پیغمبر لپاره مناسب نده، چې وسله په تن کړي او بیا یې دجهاد کولو پرته کوزه کړي... دا حکم یواځې تر رسول الله (ﷺ) مخصوص نه و، دهر پیغمبر علیه السلام لپاره داحکم و، چې دوسلې په تن کولو وروسته ترهغه پورې چې جهاد ته نه وي لاړ، دوسلې ښکته کول جایزندی، علماء وایي له دې څخه دا هم جوته شوه چې په شروع سره دقلي اومستحب عمل سرته رسول واجب ګرځي.

